

# په اوربند او په اوربند پورې اړوندو تړونونو کې جنسيتي مسايلو ته ځواب ويونکي بهيرونه

لومړی لارښود

۱۶ جوزا ۱۳۸۱

UN WOMEN

افغانستان، اپریل، ۲۰۲۱

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون** د بشر حقونو یو ملي بنسټ دی چې د هیواد په کچه د بشر حقونو د پراختیا او ملاتړ په برخه کې فعالیت کوي. د بن د کنفرانس د پریکړه لیک او د افغانستان د جمهور رئیس د فرمان پر اساس جوړ شو، او وروسته د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون د ۵۸ مادې په حکم، د افغانستان د دولت په چوکاټ کې د یوې خپلواکې اداري په توګه، په افغانستان کې د بشر حقونو د رعایت د څارنې، ښه والي او ملاتړ په منظور، د اساسي قانون له ملاتړ برخمن شو "هر څوک کولی شي د خپلو بشري حقونو د نقض په صورت کې دې کمېسیون ته شکایت وکړئ. کمیسیون کولی شي د افرادو بشري حقونو د نقض موارد، مربوطه قانوني ځانګو ته راجع کړي او د هغوی له حقوقو څخه دفاع و کړي." (د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون ۵۸ ماده ۱۳۸۲).

**په افغانستان کې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر** د ملګرو ملتونو سازمان مربوط دی، د جندر مساوات او د ښځو ځواکمنولو فعالیت کوی. دا په ټوله نړۍ کې د ښځو او انجونو حقونو ملاتړ کوي او په نړۍ کې د میرمنو اړتیاو په نښه کولو او د پرمختګ موخه تاسیس شوی.

©۲۰۲۱په افغانستان کې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر. ټول حقوق د خپرونکي لپاره خوندي دي. په افغانستان کې خپریګی
لیکوال: روشنی منون

په دې خپرونه کې څرګند شوي نظریات د لیکوالې مربوط او په افغانستان کې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر او د ملګرو ملتونو پورې اړوند ارګانانو نظریات نه منعکس کوی.

# لنډیز

ښځې په نړیواله کچه تل د کړکېچنو او لانجو په لومړۍ کرښه کې وي. آن هغوی ډېری وختونه د ښکېلو غاړو ترمنځ د اوربند د څرنګوالي او د جګړې د پایته رسېدو په اړه خبرو- اترو په برخه کې هم د خبرې – اترې کونکو ډلو د مشرانو یا غړیو په توګه کار کوي. خو له دې سره سره ډېری وختونه د هغوی مهارتونه او یا لومړیتوبونه په اوربند پورې په اړوندو هوکړه لیکونو او د څار او نظارت په میکانیزمونو کې ځنډېږي ته کېږي. د دغه ځنډېږي ته کولو لامل په معمولي توګه له دې فرضیې سره تړلی دی چې د اوربند به اړه خبرې – اترې تخنیکي پوهه او پوځي مهارتونه غواړي. د همدې لامل له مخې له معمول سره سم ښځې په سوله پورې د اړوندو پروسو په وروستنیو پړاونو کې دغه بهیر ته داخلېږي.

ښځو په افغانستان کې د اوربند غوښتنې په اړه ستر کمپاینونه ترسره کړي دي. په دې وروستیو کې، او د ۲۰۲۱ کال په جنوري میاشت کې شاوخوا ۷۰۰ ښځې په کابل، او همدشان له ۱۰۰ څخه تر ۷۰ ښځې د افغانستان په ۳۳ ولایتونو کې راغونډې شوي وې، او د سمدستي اوربند د رامنځته کېدو په موخه یې (د سولې لپاره اوربند #CeasefireforPeace) په نوم کمپاین ترسره کړ. افغان مېرمنيو همداشان په افغانستان کې د (افغانستان – د ښځو له حقونو څخه دفاع – د اوربند غوښتنه) په نوم د عدالت غوښتنې یو پر لیکه یا آنلاین کمپاین ترسره کړ. هغوی د عدالت غوښتنې په دغه کمپاین کې د سولې د خبرو – اترو د دوام لپاره د یو شرط په توګه د سمدستي اوربند غوښتنه وکړه.

دغه لارښود پر دې ټینګار کوي چې تلپاتې، پراخې او سراسري سولې ته د رسېدو په موخه د اوربند په خبرو- اترو کې په جنسیت پورې د اړوندو موضوعاتو شاملول هم اړین دي. دغه لارښود ۹ هغه وړاندیزونه په ځان کې رانغاړي چې په اوربند پورې په اړوندو خبرو – اترو کې له جنسیت د تړلو موضوعګانو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په برخه کې داډ ترلاسه کړل شي:

- په نښتو او جګړو پورې اړوند جنسیتي تاوتریخوالي، پر جنسیت ولاړو تاوتریخوالو، او په جنسیت پورې په اړوندو هدفي بریدونو کې چې پر ناپوځي وګړو ترسره کېږي، په څرګنده توګه د هغو تاوتریخوالو د یو ډول په توګه یاد کړل شي چې د اوربند د ماتېدو په پایله کې رامنځته کېږي. ددې ترڅنګ دې دغه ډول تاوتریخوالي د هغو موضوعګانو په لیست کې ځای پر کړل شي چې د څار او نظارت وړ دي.
- د شخصي امنیت په اړه اندېښنو ته باید ژر تر ژره رسیدګي وشي. دغه موضوع دې د اوربند په اړه د خبرو- اترو په برخه کې هم په پام کې ونیول شي.
- د "خلاقانه ابهام" یا د هغې کمزورې ژبې چې د هغو تاوتریخوالو په برخه کې کارول کېږي چې په ځانګړې توګه ښځې تر خپل اغېز لاندې راولي، مخنیوی وشي، او په دغو تاوتریخوالو پورې اړوندو پایلو ته د نه پاملرنې په اړه باید د روښتیا په برخه کې ډاډ ترلاسه کړل شي.
- په کار ده چې د ښځو د خوندیتوب په برخه کې د بشردوستانه اصولو، نړیوالو قوانینو او محلي قوانینو پر بنسټ کړنې ترسره شي او په دې توګه ښځې هم د ناپوځي وګړو او هم د ښځو په توګه خوندي کړل شي.
- امن ته د لاسرسي او له قید او شرط پرته بشردوستانه مقرراتو په برخه کې باید له مقطعي مقرراتو څخه ګټه واخیستل شي او په دې توګه د ښځو، نجونو، هلکانو او سړیو بېلابېلې اړتیاوې په نظر کې ونیول شي.
- په امنیتي ترتیباتو کې چې د امنیتي ځواکونو لپاره د کړنې قواعد هم پکې شامل دي، باید په لانجو پورې د اړوندو جنسیستي، او د ښځو پر وړاندې د نورو تاوتریخوالو ترسره کول منع کړل شي، او د دغو کړنو جزا دې وټاکل شي.
- په امنیتي ترتیباتو کې چې د امنیتي ځواکونو لپاره د سلوک او رفتار قواعد پکې شامل دي، باید په لانجو پورې اړوند جنسیتي تاوتریخوالی، او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي نور ډولونه منع کړل شي او دغو تاوتریخوالو ته جزا وټاکل شي.
- د امکان په صورت کې دې په هغو هوکړه لیکونو، او وروسته هغو کمېټو کې چې پر سوله او اوربند د څار او نظارت په موخه جوړېږي، د ښځو لپاره یوه ونډه (لږ تر لږه ۳۰ سلنه)، په پام کې ونیول شي.

- د داسي رسمي پروسو یا سلا – مشورې ورکولو پروسو رامنځته کول چې د خبرو – اترو په پروسه کې نېغ رول ولري. دغه سلا – مشورې کولای شي چې د بېلابېلو پاړکو یا قشرونو ښځې پر دې وتوانوي چې خپل اړوند مسائل شریک کړي، په اجنډا کې یې ځای پر کړي او مشترک ورته ونیسي.

د "اوربند، او جنسیتي اړتیاوو ته ځواب ویونکي د اوربند هوکړه لیکونه" په اړه د تلپاتې سولې دغه لارښود د افغانستان د بشري حقونو د کمیسیون او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د اداري له خوا په شریکه چمتو کړل شوی دی. دغه لارښود د یو شمېر هغو موضوعي لارښودونو یوه برخه ده چې په افغانستان کې له نړیوالو چوکاټونو د ګټې اخیستنې او مناسبو نړیوالو روشونو په برخه کې چمتو کړل شوي دي. د دغو لارښودونو موخه د خبرو – اترو ټیمو او نورو ښکېلو شریکانو ته په سولې پورې اړوند په هر ډول هوکړه لیکونو کې په جنسیت پوري د اړوندو موضوعګانو د شاملېدو په اړه د ستراتیژیکو روشونو وړاندي کول ده. په دغه لارښود کې ځای پر ځای شوي توصیې د ښځو د مدني ټولنو د شبکو له لومړیتوبونو او حمایتي پیغامونو سره همږغي دي، ځکه هغوی د سولې په پروسه کې د لاډېر رول، مشارکت، اجرایوي میکانیزمونو، څار او نظارت غوښتنه کوي.

## ۱. په اوربند کې جنسيتي مسايلو ته ځواب ويونکي مقررات: د سولې په بهيرونو کې له پامه غورځېدلې اړخ

ښځې هر وخت په شخړو او بحرانونو کې د ځواب ويلو په لومړۍ کرښه کې پاتې شوې دي، خو لا هم په اوربند پورې اړوند تړونونه او نظارتي مېکانيزمونه د سولې او جګړې جنسيتي اړخونه نه دي رانغښتي او دا برخه پکې خواره ده. د ۱۹۹۰ او ۲۰۱۶ کلونو تر منځ د سولې په ۲۶۷ لاسليک شويو تړونونو کې يوازې په ۲۹ تړونونو کې د جنسيتي برابرۍ مقررات مراعت شوي وو. دا په داسې حال کې ده چې تر ۲۰۰۰ کال وړاندې د جنسيت موضوع يوازې د سولې په شپږو تړونونو کې ياده شوې وه (Forster and Bell، ۲۰۱۹: ۵). په حقيقت کې، د سولې د تړونونو د نورو برخو په پرتله، د اوربند په تړونونو کې د جنسيتي برابرۍ مقررات نيم په نيمه کم راغلي دي (۱۱ سلنه) او په نورو برخو لکه ضمني، متمم، او تطبيقي تړونونو کې دا فيصدي ۲۱ سلنه ده. (Ibid)

څنګه چې دا موضوع هر وخت له تړونونو بهر پاتې شوې ده، يوه عامه توضيح يې داسې ده چې وايي اوربند د پوځي عملياتو او تجهيزاتو تخنيکي پوهه غواړي او دا پوهه به يوازې وسلوالې ډلې لري؛ البته دا رساله دغه توضيح نه مني. (Barsa، Holt-Ivry and Muehlenbeck، ۲۰۱٦). دا لاربشود داسې نه انګېري چې ګواکې ښځې اړين تخنيکي مهارتونه نه لري، بلکې وايي چې د دې مهارتونو له لرلو سره سره، دوی ډېری وخت د سختو امنيتي پرېکړو په اړه له تصميم نيولو څخه بې برخې کېږي. همدا لامل دی چې د سولې د بهير دربيمګړي او اسانچاري غواړي ښځې د سولې د بهير وروستيو پړاوونو ته وځنډوي، خو شواهد ښيي چې په ډېرو جګړو کې مصلحو مېرمنو د اوربند او سيمه‌ييزې متارکې د تړونونو د رامنځته کولو لپاره لومړني ګامونه اخيستي دي. د بېلګې په ډول، کله چې په ۲۰۱۹ کې په افغانستان کې د اوربند په ملاتړ د راټولېدو غږ وشو – البته افغان حکومت له پخوا څخه اوربند خپل لومړيتوب ياد کړی و- د هېواد له ګوټ ګوټ څخه ۳۰۰۰ مېرمنې راټولې شوې او د سولې لپاره د ښځو په ملي اجماع کې يې وويل چې بېړنی اوربند غواړي. د اوربند بشپړ تړون د ټولو لپاره د تلپاتې او تر لاسه کېدونکې سولې اساس دی چې د ښځو او همدارنګه د مذهبي او قومي لږکيو حقونه او مصؤنيت خوندي کوي. په دې وروستيو کې، او د ۲۰۲۱ کال په جنوري مياشت کې شاوخوا ۷۰۰ ښځې په کابل، او همدشان له ۱۰۰ څخه تر ۷۰ ښځې د افغانستان په ۳۳ ولايتونو کې راغونډې شوې وې، او د سمدستي اوربند د رامنځته کېدو په موخه يې (د سولې لپاره اوربند #CeasefireforPeace) په نوم کمپاين ترسره کړ. افغان مېرمنيو همداشان په افغانستان کې د (افغانستان – د ښځو له حقونو څخه دفاع – د اوربند غوښتنه) په نوم د عدالت غوښتنې يو پر ليکه يا آنلاين کمپاين ترسره کړ. هغوی د عدالت غوښتنې په دغه کمپاين کې د سولې د خبرو – اترو د دوام لپاره د يو شرط په توګه د سمدستي اوربند غوښتنه وکړه.[۱]

> **لومړي چوکاټ.**
> **هغه پوښتنې چې په دې رساله کې څېړل شوې دي**
>
> - د سولې په پروسه او په تېره بيا د اوربند په تړونونو کې د جنسيت مسأله ولې مهمه ده؟
> - د اوربند په مذاکراتو کې مېرمنو ته ونډه ورکول ولې مهم دي؟
> - مېرمنې د اوربند په مذاکراتو او پروسو کې څنګه اغېزناکه ونډه څنګه اخيستلای شي، يعنې هغه بالقوه ستراتيژياني کومې دي چې د اوربند په مذاکراتو کې د جنسيي مسايلو رانغاړونکي مقررات ډاډمنوي؟

په دې منظور، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا (UNSCR) د ۲۰۰۰ کال ۱۳۵۲ ګڼه پرېکړه ليک، د دې شورا له ۹ نورو ورپسې پرېکړه ليکونو سره، چې د ښځو، سولې او امنيت (WPS) په اجنډا اړوند وو، يو نړيوال اصل رامنځته کوي. سره له دې چې دغه اصل الزامي نه دی، خو د همدې اصل له امله د شخړو د هوارۍ او د سولې په پروسو کې د ښځو مصلحانه نقش او جنسيتي اړخونه په رسميت پېژندل شوي دي. دغه اصل وايي چې د سولې او امنيت لپاره هلې ځلې به يوازې هغه مهال تلپاتې وي چې مېرمنې د شخړې له مخنيوي څخه رانيولې د شخړې تر هواري پورې د سولې په ټول بهير کې برابره ونډه ولري، خو دغه شورا تأييدوي چې په ځينو خاصو هېوادونو، په تېره بيا په افغانستان، کې د دې اجنډا عملي کول له ننګونو ډک دي. سره له دې چې د امنيت شورا خپل سياسي دريځ غځولی دی چې جنسيتي مسايلو ته پام کول په هېواد کې د تلپاتې او اوږدمهاله سولې او امنيت په تر لاسه کولو کې د مرکزي اهميت لرونکی وپېژندل شي، خو بيا هم د ښځو د سولې او امنيت اجنډا تر دې دمه په هېواد کې د پام

[۱] https://www.change.org/p/government-of-afghanistan-afghanistan-protect-women-s-rights-demand-ceasefire-656cfd5f-2235-4d4c-9a7b-caf83ca919a4

وړ مهم ګامونه نه دي اخيستي او ښځې لا هم ځورېږي؛ نو د سولې په اړه راتلونکې بين الافغاني خبرې اترې د ښځو لپاره ارزښتمن فرصت برابروي چې په دې پروسه کې دې لا زياته ونډه وغواړي او په مذاکراتو کې د خپلو ليدلوريو او اندېښنو له منعکس کېدو څخه ډاډمنې شي. د دې لنډې رسالې پاتې برخه به د اوربند د تړون موخه او اهميت وڅېړي، چې په افغانستان کې د اوربند لپاره د مذاکراتو اړتيا رانغاړي. بيا به تر دې وړاندې چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د اوربند په مذاکراتو کې د ښځو د ګډون اړوند مثالونه راوسپړي، د سولې په تړونونو کې د جنسيتي مسايلو يوه رانغاړونکې قضيه لنډه څرګنده کړي. په پای کې به د اوربند د مذاکراتو، څارنې او عملي کولو په موډلونو کې د ښځو د اغېزناک ګډون د اسانولو لپاره ځينې سپارښتنې وړاندې کړي. دا رساله له دې فرضيې څخه راپيلېږي چې د لا زيات مشارکت او ګډون د اسانولو لپاره د ورننوتلو ګڼې محدودې لارې وي. همدارنګه په افغانستان کې د اوربند په مذاکراتو او په پايله کې يې د سولې په پروسه کې د جنسيتي مسايلو رانغاړونکې ليدلوری بيانوي. دا رساله پر دې استدلال کوي چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په هغو ځايونو کې چې د شخړې د بيا راګرځېدو ګواښ زيات وي،[2] د سولې په پروسه او په تېره بيا د اوربند په مذاکراتو کې د ښځو ګډون د اوږدمهاله او تلپاتي تړون او د سولې د دوام سبب کېدلای شي.

## ۲. په افغانستان کې د مرګونو او ورانيو څپه: د اوربند بېړنۍ اړتيا

د افغانستان د څلوېښت کلنې جګړې په بهير کې ښځې ډېرې ځورېدلې دي. د طالبانو د واکمنۍ راپرځېدو راهيسې، افغان ښځې سولې او برابرۍ ته د رسېدو لپاره د هڅو په لومړي کتار کې دربدلې.

موندنو دا ښودلې چې د جګړې له امله ښځو ته ډېر زيانونه اوښتي. د بېلګې په توګه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) يوې موندنې ښودلې چې، يوازې د ۲۰۱۹ کال د جنوري له لومړۍ نېټې تر دسمبر۳۱ پورې، شاوخوا ۱۲۰۲ ښځو ته مرګ او ژوبله اوښتې چې له دغې جملې څخه، ۳۴۵ تنه يې وژل شوي او ۸۵۷ نورې يې ټپيان شوي دي. دا موندنې د ۲۰۱۸ کال د موندنو په پرتله ۴ سلنه زياتوالی ښيي. په ۲۰۲۰ کال کې بيا د مرګ ژوبلې کچه کې په ټوليزه توګه کمښت تر سترګو کيږي. په دې کال کې له ۱۱۴۶ ثبت شوي آمارو له جملې څخه ۳۹۰ مړي او ۷۵۶ يې ټپيان دي. له بلې خواه، په همدې کال کې ښځو او ماشومانو ته ډېره مرګ او ژوبله اوښتې و. د يوناما د ۲۰۲۰ کال د موندنو پر بنسټ، د ښځو مرګ ژوبله کې ۱۳ سلنه زياتوالی (UNAMA and OCHRCHR ،۲۰۲۱: ۱۳) راغلی چې پکښې ۴۳ سلنه ملکي تلفات ښځو او ماشومانو اوښتي ده.(ibid) د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د راپور پر اساس، په ۲۰۲۰ کال کې ۸۴۷ ملکي ښځو ته تلفات اوښتي چې له دې جملې څخه يې ۳۳۰ تنه ښځې وژل شوي او ۵۱۷ نور يې ټپيان شوي دي. د نوموړي کميسيون د څرګندونو پر بنسټ په ۲۰۲۰ کال کې په هر ۲۴ ساعاتونو کې په اوسط ډول ۸ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۵ نور هم ټپيان شوي دي. (AIHRC،۲۰۲۱: ۱)

د يوناما لخوا مستند شوي راپورونه ښيي چې د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې د دسمبر تر ۳۱ پورې په ټوليزه توګه ۸۸۲۰ وګړو ته تلفات اوښتي (۳۰۳۵ تنه وژل شوي او ۵۷۸۹ نور ټپيان شوي دي) (UNAMA and OCHRCHR ،۲۰۲۱: ۱۱) چې دا شميرې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۵ سلنه کموالی ښيي او په لومړي ځل د ۲۰۱۳ راهيسې تر ټولو ټيټه شميره ثبت شوي ده. د يوناما رپوټ له مخې، د ۲۰۲۰ کال په لومړي درې ربعو کې په ملکي تلفاتو کې کموالی د حکومت ضد عناصرو او د نړيوالو ځواکونو لخوا په هوايي بريدونو کې کموالي ته منسوب شوی دی. (UNAMA ۲۰۲۰) همدارنګه په ياد شوي رپوټ کې د نوموړي کال د څلورم ربع په ترڅ کې د ملکي تلفاتو په شمير کې د دريو ربعو په پرتله زياتوالی ثبت شوی دی. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د موندنو له مخې په ۲۰۲۰ کال کې د ملکي تلفاتو ۲۶ سلنه يې وګړي چې د وسلوالو په بريدونو کې زيانمن شوي ملکي کارکونکي، خبريالان، مدني فعالان، ديني علما، بانفوذ شخصيتونه، د ملي شورا غړي او د حقونو مدافعين ثبت شوي دي.(AIHRC، ۲۰۲۱ :۱)

[2] دا موضوع په ډاګه کوي چې د جګړې د بيا پېښېدو ګواښ لا هم په پراخه کچه موجود ده. د ۲۰۰۰ کلونو په اوږدو کې اټکل کېده چې ډېرې جګړې په هغو هېوادونو کې رامنځته کېږي چې پخوا هم د جګړو ميدانونه و.( (World Bank, ۲۰۱۱: ۲-۳)

سربیره پردې ، پدې موده کې د ۲۰۱۹ په ورته ربع کې د ملکي تلفاتو ۴۵٪ زیاتوالی ښيي. دا تلفات عمدتا د چاودیدونکي توکو کارول او هدفي وژنې له امله شوي. (UNAMA and OHCHR،۲۰۲۱: ۱۱)

د ۲۰۲۰ کال په ورته ربع کې وروسته له دې چې د افغانستان د سولې خبرې په رسمي توګه د سپتمبر په ۱۲ پیل شوې، وسلوال تاوتریخوالی هم زیات شو.(Ibid) د سولې د خبرو په وروستیو میاشتو کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو پر وړاندې هدفي وژنې هم زیاتوالی موند چې ډېری قربانیان یې ښځې وې. (UNAMA، ۲۰۲۱:۸)
مهمه دا ده چې افغانستان په دې وروستیو کلونو کې د متارکې یا اوربند ځینې لنډمهاله تجربې کړې دي. د ۲۰۱۸ او ۲۰۲۰ د اخترونو په ورځو کې طالبانو له درې ورځني اوربند سره هوکړه وکړه. دوی په ۲۰۱۸ کې د اختر په رخصتیو کې ټولې تعرضي حملې بندې کړې، خو بهرني پوځیان له دې اوربنده مستثنا وو. په داسې حال کې چې طالبانو د اوربند د موافقت لپاره هیڅ دلیل نه و راوړی، داسې ښکارېدل چې هغوی به هغه مهال د جنګي اسیرانو د خوشې کولو تکل درلود، البته په دې شرط چې نور به د هغوی پر ضد نه جنګېږي. کله چې په دې وخت کې داسې راپورونه خپاره شول چې طالب او د حکومت د امنیتي ځواکونو غړي سره غاړه غړۍ شوي او له یو بل سره یې عکسونه اخیستي دي، دا د سولې پروسې پیلولو ته د انګېزې ورکولو خورا مهمه شېبه وه. همدا شان، په ۲۰۲۰ کې طالبانو له حکومتي ځواکونو سره اوربند[۳] اعلان کړ چې د روژې د اختر له پیلېدو سره شروع کېده. دې پېښې یو ځل بیا په هېواد کې د تاوتریخوالي د اوږدمهاله کمښت هیلې راوټوکولې. د دې پېښې په ځواب کې، ولسمشر محمد اشرف غني اعلان وکړ چې د بندي طالبانو د خوشي کولو چاره به ګړندۍ شي او "خاص ګامونه" به واخیستل شي (BBC News، ۲۰۲۰). په حقیقت کې، دغو شېبو د عامو افغانانو لپاره د هیلو ګړکۍ پرانیستې چې ښايي ځینې جنګي قومندانان او لوړ پوړي کسان به له جګړې ستړي شوي وي، خو راپورونو داسې ویل چې د طالبانو مشران به متفاوت نظر لري او خپلو جنګیالیو ته یې امر وکړ چې له عامو خلکو سره دې اړیکې نه ساتي. له دې سره سره، لومړنیو راپورونو په ډاګه کوله چې د یوه اوربند پر مهال یو بالقوه راتلونکې سیاسي هوکړه چې جنګیالیو ته د عاید او معیشت بدیله سرچینه برابره کړي، د سولې د هوکړې لپاره د پرمختګ لاره هوارولای شي.

بل ځای، د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې د ملګرو ملتونو سر منشي، انتونیو ګوتیریس، هم په ټوله نړۍ کې د اوربند یوه ببړنۍ غوښتنه وکړه چې نړۍ خپل ټول پام د کوویډ-۱۹ له نه ختمېدونکې وبا سره مبارزې ته واړوي (United Nations، ۲۰۲۰a). هغه د همدې کال په سپټمبر کې د ملګرو ملتونو د ۷۵مې عمومي غونډې په پیل کې خپله دغه غوښتنه بیا تکرار کړه. تر دې وروسته بیا د ۲۰۲۰ د نومبر په ۲۳ او ۲۴ نېټو د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو او د افغانستان او فنلنډ هېوادونو په ګډه غونډه کې د ملګرو ملتونو د بشر حقونو لوی کمېشنر، میچل بچلیت او د کډوالۍ په برخه کې د ملګرو ملتونو لوی کمېشنر فیلیپو ګراندي ببړنۍ اعلامیه خپره کړه چې د دایمي اوربند او له زیان څخه د ملکي وګړو د خوندي ساتلو د ژمنې مبرمیت یې په ډاګه کاوه. (UN News، ۲۰۲۰، United Nations ۲۰۲۰b)

## ۳. د اوربند تړون څه او ولې مهم دی؟

د سولې ټول تړونونه باید د تاوتریخوالي د بندولو د پوښتنې ځواب ولري. په ډېرو قضیو کې، دا کار د اوربند په ځینو ډولونو سره کېږي (Chounet-Cambas، ۲۰۱۶).[۴] عمومي حکمت یې دا دی چې په دې ځانګړو قضیو کې، جنګېدونکې خواوې هڅه کوي چې داسې مېکانیزمونه رامنځته کړي چې تاوتریخوالی بند کړي او د یو ډول الزامي تړون له لارې د تاوتریخوالي د بیا پیل کېدو مخه ونیسي. په دغه تړون کې خاصې پوځي او تکتیکي لارښوونې او همدارنګه د تاوتریخوالي د ختمولو مهالوېششامل وي. په مطلوب حالت کې، به دا مېکانیزم نړیوال ملاتړ ولري. په دغه ملاتړ کې سیاسي او اغېزناک ملاتړ او همدارنګه مالي او تخنیکي مرستې شاملې وي چې موخه یې تلیاتې سولې ته د رسېدو لپاره د جنګېدونکو غاړو داسې ملاتړ دی چې په دې لاره کې خپل ګامونه چټک کړي.

[۳] دلته اوربند د یوې پراخې اصطلاح په توګه کارول شوی دی او لا مشخصه معنا یې د دښمنۍ د ختمولو ناره ده چې د شخړې غاړې د نارسمي هوکړې په توګه د دښمنۍ د پرېښودلو پرېکړه کوي چې د څارنې هیڅ رسمي میکانېزم نه رانغاړي

[۴] که څه هم د اکثرا اوربند تړونونه ځانګړي مقررات لري ، د دې ډول تړونونو ځینې استثناوې شتون لري چې کارول شوي ندي: د بېلګې په توګه د انډونیزیا حکومت ترمینځ د تفاهم یادداشت او د ACE د ازادو غورځنګ (GAM)، په ۲۰۰۵ کال کې لاسلیک شو، ده ته داسې تړونونو تابع دي.

**د اوربند محدوده:** مهمه خبره دا ده چې د اوربند تړونونه هم اغلباً درې ډلې مادې لري: الف) امنيتي مادې وسلوالو ډلو ته خطاب کوي چې د نظامي فعاليتونو ممنوعيت پکې شاملېږي او په دې کې د نظامي او ستراتيژيکو موخو لپاره د ګام پورته کولو ممنوعيت هم شامل دی؛ ب) د بشري مسايلو په اړه لارښودونه، چې د بشري حقونو د نقضولو ممنوعيت پکې شاملېږي (په دې کې جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي او په شخړې پورې تړلی جنسي زور زياتی هم شامل دي)؛ همدارنګه بشري مرستو ته د لاسرسي قواعد، د بشري حقونو ضمانتونه، د بنديانو د خلاصولو تړون (که بنديان وي) او د ملکي وګړو او ټيپانو په را ايستلو پورې اړوند قواعد هم پکې راځي؛ ج) د تاوتريخوالي او شخړې د را کمولو مېکانيزمونه يا هغه اجرايي مواد چې د څارنې او ارزونې يا د عملي کولو کمېټې تشکيلوي، د شخړې د هوارۍ يا مفاهمې مېکانيزمېکانيزمونه، د سوله ساتو ځواکونو موډلونه او د خشنو ويناوو او خپرونو د منع کولو قواعد رامنځته کوي (Forster، ۲۰۱۹، Forster and Bell، ۲۰۱۹). لنډه دا چې، د اوربند دوديز تړونونه بشري مرستو ته د لاسرسي لپاره فضا برابروي او د جنګېدونکو خواوو لپاره قواعد او د چال چلند ډولونه تعيينوي، چې جګړه ودروي، ورسره هم مهاله د شخړې د محرکونو د تغييرولو فرصت برابروي او د سولې د لا لويو پروسو د پيلولو شرايط ايجادوي. (DPPA and UN Women، ۲۰۲۰)

د اوربند د تړونونو وسعت: د اوربند د تړونونو جامعوالی او وسعت د شرايطو، سياق او همدارنګه د تړون کچې (سيمه‌ييزه يا نړيواله کچه) ته په کتو له يو بله توپير سره لري. د بېلګې په ډول، د سوريې په کورنۍ جګړه کې د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۷ کلونو تر منځ د اوربند د ۱۰۶ تړونونو نوې ټولګه رامنځته شوه. د دغو تړونونو تقريباً له څلورو درې برخې (تقريباً ۷۲ سلنه يې) د ټاکلې مودې په بهير کې عملي شول (Karakus and Svensson، ۲۰۱۷). البته د اوربند په سيمه‌ييزو تړونونه کې لا محدودې برخې شاملېږي، مثلاً کله چې يو مشخص سړک پرانيستل کېږي يا دواړه اړخونه خپل بنديان ازادوي، همدارنګه د بشري مرستو د لاسرسي لپاره د لارې ورکولو، د ټاټکونو د تحويلۍ او/ يا د خاصو کمېسيونونو د تشکيلولو مهال. عمومي يا د هېواد په کچه اوربندونه د داسې موضوعاتو لپاره کېږي چې ورپسې تړونونو ته لاره هواروي.

دا تړونونه د خلع سلاح کولو او بيا ادغام (DDR)، امنيتي اصلاحاتو او د بشر حقونو د مقرراتو لپاره لا پراخ پلانونه رانغاړي (Forster and Bell، ۲۰۱۹). په حقيقت کې په جامع اوربندونو کې دا موضوع زياته اغېزه لري او په ځينو قضيو کې دا هم تعيينوي چې کوم لوري به د سولې د مذاکراتو مېز ته راوبلل شي او د خبرو په اجنډااجنډا کې به يې کوم مسايل را پورته کېږي (Barsa، Holt-Ivry and Muehlenbeck، ۲۰۱۶). سره له دې چې د اوربندونه په حدودو او عمق کې توپيرونه شته، خو ځينې شونکي وايي چې د شخړې په ختمولو او مديريت کې غير رسمي او داخلي سوله تر رسمي او بهرنيو تګلارو لا غوره کار کوي. (Karakus and Svensson، ۲۰۱۷)

**د اوربند ترتيبول:** د اوربند ترتيب او تنظم د سولې د ګُلي بهير په هر پړاو کې واقع کېدای شي. کېدای شي اوربند د پروسې په لومړي سر کې پيل شي چې د جنګېدونکو غاړو تر منځ د رغوونکو خبرواترو لپاره چوکاټ برابر کړي يا کېدای شي د سولې د پروسې په وروستيو پړاوونو کې د شخړې د ختمولو د عمومي توافق د يوې برخې په حيث تر سره شي. په لومړۍ سناريو کې اوربند د ښه نيت او ژمنې د ښو نښانو په توګه کار کوي او د سياسي خبرو اترو لپاره خوندي فضا او امتحاني چاپېريال برابروي او دا تعيينوي چې د مذاکرې لپاره دوه اړخيزې ګټې او لا زياته ژمنه شته کهنه . په دغو قضيو کې اوربند د باور جوړولو مېکانيزم دی؛ نو د مذاکرو په بهير کې د شخړو هر ډول زياتېدل د ژمنې او ښه نيت د نشتوالي نښه وي او سولې ته رسېدل لا سختوي او د خبرو اترو د ختمېدو سبب کېدای شي. د بېلګې په توګه، د يمن د سولې د مذاکراتو دوهم پړاو د ۲۰۱۵ په ډسمبر کې ځکه ودرېد چې جګړه سخته او تلفات زيات شول. که اوربند د سولې د مذاکراتو په وروستيو پړاوونو کې مطرح شي، د بحث وړ مسألې به له پخوا څخه حل شوې وي. کله کله د شخړو د درولو د بېړنې احساس او اړتيا له امله دغه تړونونه د حدودو او وسعت په لحاظ لا محدود ماهيت لرلای شي (Barsa، Holt-Ivry and Muehlenbeck، ۲۰۱۶). په داسې حال کې چې په افغانستان کې د مقدماتي اوربند د لارو چارو په اړه بحثونه پيل شوي دي، تمه کېږي چې د پروسې په لومړي سر کې به جامع اوربند ولرو، چې سياسي توافق به ورسره مل وي؛ نو د دې لارښود په وروستيو برخو کې موضوعات داسې مطرح شوي دي چې سره له دې چې ممکن د اوربند په اړه مذاکره لا له وړاندې پيل شوې وي، خو د سولې داسې مذاکره چې له لا پراخ سياسي توافق سره مله وي، هم‌مهاله واقع شي. پايله دا چې په دې لارښود کې ځينې سپارښتنې داسې دي چې هم د اوربند د تړون لپاره او هم په عمومي ډول د جامع سولې د پروسې لپاره د تطبيقولو وړ وي.

## ۴. د اوربند په تړونونو کې د جنسيتي برابرۍ اړوندو موضوعاتو ته د ځای ورکولو دليلونه

سره له دې چې د جګړې د درولو مختلفې لارې چارې شته، خو په هغو هېوادونو کې چې له شخړې راوځي د جرمونو

کچه لوړه وي: په ۲۰۰۰ مو کلونو کې اټکل شوی و چې ۹۰ شخړې په هغو هېوادونو کې رامنځته شوې دي چې پخوا پکې جګړه روانه وه (World Bank، ۲۰۱۱: ۲-۳). په بله څېړنه کې چې د شخړو د معلوماتو اوپسالا پروګرام (UCDP) ترسره کړې، معلومه شوې ده چې د شخړو ۶۰ سلنه بیا هم تکرارېږي او تر جګړې وروسته سوله په منځني ډول یوازې اوه کاله دوام کوي (Gates، Nygård and Trappeniers، ۲۰۱٦). دا بېلګه اوس د لا ژوربدو په حال کې ده؛ نو د شخړو د هوارۍ او د سولې د ساتلو لپاره د لا جامع لارو چارو د څېړلو، موندلو او اجرا کولو سخته اړتیا ده. یوه لاره یې د اوربند او سولې د مذاکراتو په بهیر کې د لا زیاتو ښځو او مدني ټولنو ګډون دی – دا خبره د ځینو شواهدو او واقعیت ته نژدې کمي معلوماتو له مخې شوې ده (د Hudson او د هغه د ملګرو ۲۰۱۲ څېړنه وګورئ)[5] - په حقیقت کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پرېکړه لیک (۲۰۰۰) په شلمه کلیزه کې په افغانستان کې د سولې بهیر نړیوالې ټولنې ته فرصت برابروي چې خپلې هڅې پر لا جامع امکاناتو او همدارنګه "د موجودو ځواکونو پر تغییر او خبرو اترو ته د جګړې د غاړو پر روانولو" متمرکزې کړي. (United Nations ۲۰۲۰d: ٤)

په افغانستان کې د ښځو د ملاتړ په اړه له پورتنیو شواهدو او همدارنګه د اوربند په دودیزو تړونونو کې د خاصو مقرراتو او ممنوعیتونو له مختصرې طرحې څخه دا پایله راوځي چې د اوربند په تړونونو کې د جنسیتي موضوعاتو شاملول خورا مهم دي، چې لاندې شپږ دلیلونه ورته شته (Forster and Bell، ۲۰۱۹):

- **په شخړو کې د جنسیتي موضوعاتو د مطرح کېدلو اطمینان:** دا ډېره مهمه ده چې په تړون کې د جنسیتي مسایلو په اړه خاص بندونه راشي چې د تاوتریخوالي مختلفو بعدونو ته، پام شوی وي چې ښځې او نران یې تجربه کوي او له دې اړخه ډاډ تر لاسه شي. همدارنګه دا خبره د دې لپاره مهمه دي چې کله د بې ځایه کېدو، جنسي او جنسیتي تاوتریخوالیو، خلع سلاح او مجدد ادغام مسایل مطرح کېږي، اطمینان حاصل شي چې د جنسیتي مسایلو رانغاړونکي مناسب موارد پکې راغلي دي.
- **د اوربند د شرایطو د یوې برخې په توګه، د جنسیتي تاوتریخوالي ممنوعیت:** که د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د اوربند نقض کول وګڼل شي، دا به یو مهم فرصت په لاس راکړي چې دا ډول تاوتریخوالی ممنوع شي او د داسې پېښو ثبتول به د اوربند د څارنې د مېکانیزم برخه وګرځي. د اوربند په تړون کې د دې مورد ځایول، د څارونکو د روزلو لپاره فرصت برابروي چې دا ډول تاوتریخوالي دې په لا زیات حساس میتود سره وڅاري.
- **په بشري چارو د ښځو له مهارت، پوهې او لاسرسي څخه استفاده:** څنګه چې اوربند معمولاً پر امنیتي مسایلو سربېره، بشري چارې هم په پام کې نیسي؛ نو ښځې په دې برخه کې ځانګړې تجربې او تخصص لري چې که ورنه کار واخیستل شي بشري مرستې به لا ښې او هدفمندې شي.
- پروسې ته د لا زیات اعتبار ورکول: څنګه چې پورته یاده شوه، د سولې په پروسه او د اوربند په تړونونو کې د ښځو ګډون کولای شي دغه خبرې اترې لا زیاتې قانوني وښيي، د تړون له تطبیقولو او د سولې د راتلونکي بهیر له پایښت سره مرسته وکړي.
- **د راتلونکو مذاکراتو د ټولشمولوالي د بنسټ برابرول:** که د اوربند په مذاکراتو کې د جنسیتي مسایلو له مطرح کېدو اطمینان حاصل شي، دا به د راتلونکو خبرو اترو د ټولشمولوالي د تضمین او د یوه اصل د ایجادولو لپاره لومړی ګام وي او همدارنګه به په دې بهیرونو کې د ښځو د تخصص ونډه وځلوي. له دې کار سره به اطمینان حاصل شي چې په لومړیو پړاوونو کې هغه موضوعات چې په ښځو پورې اړوند دي، له اجنډااجنډا څخه نه لرې کېږي.
- **د راتلونکو مذاکراتو په ټولو اجنډاوو کې د جنسیتي مسایلو له نغښتلو څخه اطمینان:** د اوربند تړونونه د راتلونکو سیاسي چارو لپاره چوکاټونه او تګلارې رامنځته کولای او له راتلونکو سیاسي هوکړو سره ارتباط لرلای شي؛ نو که له دې څخه اطمینان حاصل شي چې په لومړنیو پړاوونو کې د جنسیتي مسایلو مقررات په پام کې نیول کېږي (سره له دې چې تر هغو په وروسته پړاوونو کې د لا زیات ګډون تضمین نشي کولای)، دا به د جامع سولې د تړون په لوري یو ګام وي.

## ۵. د جامع او ټولشمولو تړونونو د مذاکراتو لپاره ځینې سپارښتنې[6]

په مختلفو هېوادونو کې[7] د اوربند لپاره د ترسره شویو مذاکراتو د بهیرونو تجزیه او شننه راښیي چې د اوربند مذاکرات تر

[5] د مثال په توګه، څېړنې ښیي، کله چې ښځې د سولې په مذاکراتو کې ګډون کوي، د ۳۵ سلنه ترلاسه شویو هوکړو پایلې په ډاګه کوي چې د هوکړهلیک موارد تر۱۵ کلونو پورې دوام کړئ (Holt-Ivry, Muehlenbeck and Barsa ,۲۰۱۷).

[6] پام وکړئ لیست شوې سپارښتنې له بېلابېلو سرچینو اخیستل شوي دي؛ لکه Barsa, Holt-Ivry and Muehlenbeck ,۲۰۱٦; Bell ,۲۰۱۳; Forster and Bell ,۲۰۱۹; ICAN ,۲۰۱۹; Pospisil and Bell ,۲۰۱۸ United Nations, ۲۰۱۲. د اوربند په اړه د نورو هېوادونو ( په ۲مه ضمیمه کې توضیح شوي) د حالاتو له تحلیل او تجزیې څخه هم استفاده شوې ده.

[7] د دې سند په وروستیو پاڼو کې د ۲ ضمیمې برخې ته مراجعه وکړئ او هلته د سولې او اوربند د خبرو اترو په برخه کې د کانګو د ډیموکراتیک جمهوري دولت ۱۹۹۹-۲۰۰۳، د میانمار ۲۰۱۵ او جنوبي سوډان ۲۰۱۴ – ۲۰۱۵ هېوادونو تجربې او درسونه ترلاسه کړئ.

ډېره استثنايي او لـه نـورو متفاوت وي او د جنسيتي مسايلو او د ښځو د اغېزناک ګډون پـر وړانـدې خنډونه رامنځتـه کـوي. پـه دې حساب، د اوربنـد مذاکرات د سولې پـه راتلونکو پړاوونو او د مذاکراتـو د اصلي اجنډا د موادو پـر ټاکلو مهمه اغېزه لـري؛ نـو اړينـه ده چـې پـه دې پروسو او مېکانيزمونو کـې د جنسيتي مسايلو پـه رانغاړلو او د ښځو د ګډون پـه زياتولو سره، د اوربنـد د مذاکراتو، تړونونو او د څارنې د بهيرونـو کيفيت او کميت زيات شي. د افغانستان د سولې مذاکراتو پـه برخـه کـې، دا خـورا مهمه ده چـې مذاکره کوونکي د مذاکراتـو پـه بهير کـې او تـر مذاکراتـو وروسته د جنسيتي مسـايلو رانغاړونکي لانـدې ګامونه پـه پام کـې ونيسي (د ملګـرو ملتونـو سـازمان، ۲۰۱۲) [۸]

**۵. ۱. د اوربند د مذاکراتو په بهير کې د ورګډېدلو ځايونه**

هغـه تجربـې چـې پـه نـورو هېوادونـو کـې د ښـځو د ونـډې لـه تقويـې او د ښـځو لومړيتوبونـو تـه لـه پام اړولـو څخـه ترالاسـه شـوې دي (دوهمـې ضميمـې تـه وګورئ) د هغـو شـنو تـر څنګ چـې د افغانسـتان لـه وضعيـت څخـه ترالاسـه شـوې دي، څرګنـدوي چـې د رسـمي اوربنـد د تـړون پـه مـتن کـې د دغـو موردونـو ځايـول خـورا مهـم او حيـاتي دي:

- جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي (SGBV) بايـد د تاوتريخوالي د يـوه ډول پـه حيـث واضـح يـاد شي، د هغـو تاوتريخواليـو پـه لسـت کـې شـامل شي چـې لـه اوربنـد څخـه سرغړونـه بلـل کېـږي او همدارنګـه بايـد د څارنـې د يـوه مـورد پـه توګـه يـاد شي. دا ډېـره مهمـه ده چـې د جنسـيتي مسـايلو رانغاړونکـي اوربنـد پـه تـړون کـې لـږ تـر لـږه داسـې مـواد راشي چـې جنسي او جنسـيتي تاوتريخـوالي منـع کـوي او کـه تـرسره کېـږي، د جنګـي جنايـت پـه توګـه يـې مسـووليت د عاملـو ډلـې چارواکـو او مشرتابـه تـه ور وګرځـي. ښـاغلي Jenkins او Goetz (۲۰۱۰) ټينګار کـوي چـې د اوربنـد پـه تـړون کـې د داسـې ښـکاره ممنوعيتونـو نشـتوالی د جنسي او جنسـيتي تاوتريخواليـو د نـه څارنـې او نـه ثبتولـو، د دې چـارې د حقانيـت د تضعيـف او همدارنګـه تـر تـړون وروسـته پـه هېـواد کـې د بيـا رغونـې د بهيـر د کمـزورې کېـدو سـبب کېـدای شي.
- جنسي او جنسـيتي تاوتريخواليـو تـه نـه پاملرنـه ، درانـه عواقـب لـري چـې ځينـې يـې دا دي: لـه مجازاتـو څخـه د سرغړوونکـو مصؤنيـت بـه زيـات شي؛ ښـځې بـه د خپـل شـخصي امنيـت د کافي ضمانتونـو د نشـتوالي پـه خاطـر لـه داسـې فعاليتونـو څخـه ډډه کـوي چـې اقتصـادي شرايـط ورسره شـه کېـږي، لکـه کرنيـز او سـوداګريز فعاليتونـه؛ همدارنګـه نـوي بنسـټونه ورسره کمـزوري کېـږي، ځکـه چـې لـه جنسي تاوتريخواليـو څخـه را ولاړه شـوې زياتېدونکـې ټولنيزه بې ثباتي بـه حل نـه کـړای شي. د ملګـرو ملتونـو د سـياسي چـارو او د سـولې جوړوونکـي ډيپارټمنـت د اوربنـد پـه تړونونـو کـې د جنسي او جنسـيتيتاوتريخواليو د مطـرح کولـو پـه اړه نـور لارښـودونه هـم وړانـدې کـړي دي (د ملګـرو ملتونـو سـازمان، ۲۰۱۲)

**دويـم چـوکاټ: د ملکـي وګـړو پـر وړانـدې د تاوتريخـوالي د هغو ډولونو ليسـت کـول چې صريحاً جنـسي تاوتريخوالـي يادوي**

د FNL/Burundi د اوربنـد تـړون چـې د Burundi جمهوري دولت او Palipehutu تـر منځ د ۲۰۰۶ کال د سپتمبر پـه ۷ نېټـه لاسليک شـو، داسې وايي:

دويمه ماده:

۱. د اوربنـد تـړون بايـد د دغـو موردونـو لپـاره ځـواب ويونکـی وي:

۱،۱،۵. د ملکي وګړو پـه مقابل کـې د هـر ډول تاوتريخوالي بنـدول: غـچ اخيسـتنه، بيـرني اعدامونـه، شـکنجه: ځورونـه، د خپـل قـوم، مذهبـي باورونـو، او يـا سـياسي تـړاو پـه خاطـر د ملکـي وګـړو نيـول، ځـورول او شـکنجه کـول؛ د غيـر نظامـي کسـانو وسـلهوال کـول، د سرتېـرو پـه حيـث د ماشـومانو ګومـارل، جنـسي خشـونت، د ترهګـرۍ يـا عـام وژنـې د "ايډيالوژيـو" ملاتـړ يـا بابـول.

سرچينه: Pospisil and Bell، ۲۰۱۸

**دريېـم چوکاټ: د شـخصي امنيت خونديتـوب بايد چې يـو لومړيتوب وي.**

د کولمبيا پـه وروستي تـړون کـې چـې د ۲۰۱۶ د نومبر پـه ۲۴ نېټـه د وسلوالې شخړې د ختمولو او پايېدونکې سـولې د رامنځتـه کولـو لپـاره وشـو، د لارښـودو اصولـو پـه ۱.۴.۳ مـاده کـې يـې لانـدې خبرې راغلي دي:

د جنسيت پـر بنسـټ تـګلاره: د هغـو ښـځو، ماشـومانو، زلمکو او پېغلوټو پـر خونديتـوب بـه خاص ټينګار وشي چـې پـه دې تـړون کـې د ښـکېلو جنايي سـازمانونو تـر اغېـزې لانـدې پاتـې شـوي دي. دغـه تـګلاره بـه هغـو خاصـو ګواښـونو تـه پـام اړوي چـې ښـځې د خپـل ژونـد، آزادۍ، کرامت او امنيت پـه برخـه کـې ورسره مخ کېږي او د دې ګواښ،نـو د لـرې کولـو لپـاره بـه مناسـبه وي.

[۸] کـه څـه هـم د آن د اوربنـد تـر مذاکـرو مخکـې هـم د جنسيت اړونـد موضـوع ګانـو ملاتـړ تههـم جـدي اړتيـا ليـدل کېـږي، خـو دا چـې دا مذاکـرې لـه وړانـدې لا پـه افغانسـتان کـې پيـل شـوي دي؛ نـو د دغـو موضوعاتـو پـه اړه بحـث د دې لارښـود لـه صلاحيـت څخـه بهـر خـبره ده.

په شخصي امنیت پورې اړوندې اندېښنې هم په خپل وخت، مثلاً د اوربند په مذاکراتو کې، په پام کې ونیول شي. د اوربند مذاکرات ښځو ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د تاوتریخوالي یا ناامنۍ اسناد، یا تجزیه او تحلیل او ان د شخړو په اړه خپلې تجربې د مذاکرې مېز ته راوړي. ځینې اسناد او مدارک لکه د ۲۰۱۲ کال د شخړو د نقشې راپور چې د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون چمتو کړی دی، شته. موخه دا ده چې د امنیتي مسایلو په اړه ژبه بدله کړو. یعنې نه یوازې دا چې د دولت او طالبانو تر منځ د ستونزو د هوارۍ موضوع به مطرح کېږي، بلکې دا موضوع به هم څېړل کېږي چې د ښځو په شمول ټولو خلکو ته څنګه امنیت راوستلای شو (Pospisil and Bell، ۲۰۱۸). همدارنګه، ښځې د فزیکي او اقتصادي - ټولنیز امنیت تر منځ د اړیکې او د سولې او د بهیر د یوې برخې په توګه دغو موردونو ته د پام اړولو څرنګوالي په اړه آګاهانه تحلیل وړاندې کولای شي. د بېلګې په توګه، روغتیایي مراقبتونه، اوبو او خوړو او ښوونځي ته د لاسرسي د لارو خوندیتوب په دې برخه کې یوه مهمه اندېښنه ده. وروستۍ خبره دا چې په کورنۍ کې ناوړه چلند، چې تر شخړې وروسته رامنځته کېږي، د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي د یوه ډول او همدارنګه د مجدد ادغام په پروګرامونو کې د یوه پروګرام په توګه مطرح کېدای شي.

### څلـورم چوکاټ: د جنسـي او جنسـیتي تاوتریخوالیو په اړه د واضحـې او قوي ژبې د کارولـو اهمیت او رعایتولـو عواقب یې

د اوربند ګڼې مذاکرې څکه بندې شوې دي چې د جنسي تاوتریخوالیو په اړه یې کمزورې ژبه کارولې وه. مثلاً، په میانمار کې د سراسري اوربند ۱۲ مخیز تړون جنسي تاوتریخوالي د ملکي وګړو د ملاتړ په بند کې ډلبندي کړي او داسې چاره یې یاده کړې ده چې باید "مخه یې ونیول شي". دلته جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي د تړون د نقضولو په توګه صریح نه دي یاد شوي او معنا یې دا ده چې د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالیو د پېښو د څارنې او ارزونې لپاره کوم مېکانیزم نه دی وړاندې شوی. دا دنده د ګډو نظارتي ټیمونو په غاړه وه چې له دولت، پوځ او قومي وسله‌والو ډلو څخه رغېدلي وو او د ملکي وګړو لپاره خاص ځای پکې نه و. په همدې ډول، په جنوبي سوډان کې د دښمنۍ د ختمولو لومړني توافق، د جنسي تاوتریخوالي ممنوعیت په کمزورې ژبه بیان کړی و "دواړه غاړې به له جنسي تېري څخه ډډه کوي." نو جنسي تخلفات د تړون نقضوونکي نه ګڼل کېدل.

سرچینه: Barsa، Holt-Ivry and Muehlenbeck، ۲۰۱٦

- د بشر حقونو د صیانت ساتنه، چې د ټولو ښځو د برابرۍ د بنسټي ضمانتونو تقدم رانغاړي او په ځانګړي ډول په ځینو شخصي چارو لکه په طلاق، د اولاد د سرپرستۍ په حق، میراث او د واده په حد اقل عمر پورې اړوند حقونه دي. په افغانستان کې څو حقوقي سیستمونه دي؛ رسمي حقوقي سیستم، د شیعه‌ګانو د شخصي احوالو فقهي قانون، عرف او دودونه همداسې قوانین دي چې هر یو په مختلفو کچو د ښځو خوندیتوب تأمینوي؛نو دې ټکي ته په پام سره، یوه غښتلې اعلامیه چې په افغانستان کې د ټولو ښځو او د ښځو تر منځ (یعنې د مختلفو قومونو د ښځو تر منځ) د برابرۍ د بنسټي ضمانتونو تقدم بیانوي، د حقونو د خوندیتوب داسې حد به یقیني کړي چې په راتلونکو مذاکراتو کې به دوام کولای شي.
- د هغو تاوتریخوالیو په اړه د واضحې ژبې کارول چې په خاصه توګه ښځې اغېزمنوي او د داسې ژبې د نه کارولو عواقب: دا مهمه ده چې د ښځو، د ښځو د حقونو او د دې حقونو د نقضولو په اړه د "مبهمې" یا کمزورې ژبې له کارولو څخه ډډه وشي. د بېلګې په توګه، دا ژبه کمزورې ده چې ووایي "د شخړې غاړې به د ښځو په مقابل کې له تاوتریخوالي څخه ډډه کوي." پر دې سربېره، "له اسلامي اصولو سره سم" د ښځو د حقونو درناوي ته اشاره مبهمه ده؛ نو د دې موردونو دقیق تعریف باید راوړل شي او باید دا هم وویل شي چې دغه اصول به پر نرانو، ښځو، هلکانو او نجونو څنګه تطبیقېږي او د نه تطبیقولو عواقب به یې څه وي. دا په دې چې دغه موردونه به داسې خلاء رامنځته کړي چې د تړون غاړې به د ښځو او نجونو د حقونو د نقضولو لپاره تربکار واخلي (Monash University، ۲۰۲۰).
- د بشرپالنې د اصولو پر اساس د خوندیتوب لارې چارې، د ښځو په اړه نړیوال او داخلي قوانین تطبیقېږي. د دې لپاره چې د ښځو لپاره هم له دې امله ملکي وګړي دي او هم له دې امله چې ښځې دي، په دوو کچو کې خوندیتوب برابر شي، دغه مورد د بشرپالنې د نړیوال قانون مجموعې ته، همدارنګه د ملګرو ملتونو هغو پرېکړه لیکونو ته چې پر جنسیتي برابرۍ متمرکز دي (لکه له ښځو سره د هر ډول تبعیض د رفع کولو په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۳۲۵ د پرېکړه

لیک ۳۰ نمبر سپارښتنه) رجوع کوي. د افغانستان په قضیه کې د هغو مهمو داخلي قوانینو یادول او ورته رجوع کول به هم ګټور وي چې له پخوا څخه شته او د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی جرم ګڼي، لکه له ښځو سره د تاوتریخوالي د ممنوعیت قانون ۲۰۰۹، چې په دې قانون کې له ښځو سره د تاوتریخوالي ۲۲ بڼې مشخصې شوې دي. پر دې سربېره، د افغانستان د ۲۰۰۸ کال د جزا قانون د جرمونو د نړیوالې محکمې د روم له اساسنامې سره سم د افغانستان اساسي ژمنې رانغاړي. دغه ژمنې جنګي جنایتونه، د بشر ضد جنایتونه، ټولوژنې او تېری او د قومندانۍ مسوولیت د داسې مسوولیت په توګه چې د CRSV په اړه د جرمونو له نړیوال قانون سره اړخ لګوي، د افغانستان د جرمونو په قلمرو کې داخلوي.

- د یوې داسې بشړپالې تګلارې د جوړولو لپاره شرطونه چې له یوې مقطعي طریقې په کار اخیستلو سره د هغوی عمر، قومي او مذهبي هویت. معلولیت او نورو ته په پام سره، د ښځو نارینه وو، نجونو او هلکانو اړتیاوې په پام کې ونیسي.
- په امنیتي ترتیباتو پورې اړوند مقررات: په دې مقرراتو کې د امنیتي ځواکونو لپاره داسې سلوکي کوډونه شامل دي چې له مخې یې په شخړه پورې اړوند جنسي تاوتریخوالي او د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالي نور ډولونه منع کېږي او ناوړه چلند مجازات کوي. دا برخه د ښځو لپاره په پروسه کې د ګډېدلو مهم ځای دی، ځکه چې د ملکي څارنې، په واقعي امنیتي دستګاه کې (د دیموکراتیکو نظارتي بنسټونو په شمول) د ښځو د ګډون او د ښځو اندېښنو ته له پام اړولو څخه د اطمینان حاصلولو په اړه پوښتنې پکې مطرح کېږي (Proposil and Bell، ۲۰۱۸).
- د قربانیانو په اړه د عدالت محوره ترتیباتو پیل، په تېره بیا دې موردونو ته د پام اړولو په اړه د ځینو لومړنیو ژمنو د عملي کولو له لارې. په دغو موردونو کې د خاصو موضوعاتو په اړه لومړنۍ اجماع، د بشر حقونو د پراخو نقضولو نمونې یا هغه پېښې شاملېدلای شي چې څېړنه، ارزونه یا افشا کول غواړي (په دې اړه د لا زیات بحث لپاره دوهم لارښود وګورئ).
- د هغو رسمي بهیرونو یا مشورتي ټولنې رامنځته کول چې د مذاکرې په بهیر کې نقش لري. دغه مشورې د بېلابېلو تجربو لرونکو مېرمنو ته دا ځواک ورکولای شي چې خپل موضوعات، تجربې، او اوسنۍ غوښتنې شریکې کړي او د اجنډا لپاره موضوعات پیشنهاد کړي. همدارنګه ښځې کولی شي چې ګډ دریځونه رامنځته کړي چې د سولې په ټولې پروسه کې خپل نفوذ زیات کړي - دا کار هم د اوربند د مذاکراتو په بهیر کې کېدای شي او هم د سولې په را وروسته پړاوونو (موازي پړاوونو) کې (۳ شمېره چوکاټوګورئ).
- که ممکن وي، په تړونونو او په هغو کمیټو کې دې مېرمنو ته لږ تر لږه ۳۰ سلنه ونډه ورکړل شي چې وروسته د اوربند او سولې د تطبیق او څارنې لپاره رامنځته کېږي.

> **پنځم چوکاټ: د مشوره ورکولو بېلګه: د کینیا د سولې مذاکرات ۲۰۰۸ - ۲۰۱۳**
>
> د کینیا د سولې د مذاکراتو په بهیر کې ښځو د رسمي او غیر رسمي مشورو له لارې ګډون کاوه. د کینیا د ښځو د مشورې ورکولو ډلې د ښځو د سیمه‌ییز سازمان غړونه راټول کړل چې د رسنیو د اطلاع رسونې د ستراتیژۍ له لارې او د یوې ځواکمنې ښځې په واسطه، چې Graça Machel نومېده، خپله اصله غوښتنه، یعنې د جنسیتي تاوتریخوالیو په اړه څېړنه یې د مذاکراتو په اجنډا کې په جدي ډول شامل کړې.
>
> سرچینه: Kamminga، Boswinkel and Göth، ۲۰۲۰.

### ۵،۲ د اوربند د تړون تر لاسلیک وروسته، په نظارتي برخه کې د ښځو ګډون

د اوربند په هر ډول تړون کې باید د قوي نظارتي اقداماتو له شتون څخه اطمینان حاصل شي چې د ملکي وګړو له لوري د اوربند څارنه او د تاوتریخوالي د مخنیوي اقدامات پکې شامل دي. په دې تړونونو کې د تطبیق، څارنې او ارزونې کمیټې د اوربند د تړون د یوې برخې په توګه ځای پر ځای کېږي. په دغو کمیټو کې په ټوله کې د ښځو د هر لوري استازي په متناسب ډول شامل وي او همدارنګه د جنسیتي مسایلو اړوند شرطونه هم لرلای شي. څنګه چې دا اورګانونه پراخ واکونه لري، دلته د ښځو اغېزناک ګډون په هغو برخو کې د هغوی ګډون ته لاره هوارولای شي چې انحصاري "نظامي" پروسې ګڼل کېږي.

نو؛

- د اوربند د تړون د څارنې، په تېره بیا په سیمه‌ییز کچه، د ښځو له دوامداره ګډون څخه د اطمینان په خاطر باید ځینې شرطونه او مقررات وضع شي چې د شخړې د بیا تودېدو مخه ونیول شي. د دې خبرې معنا دا ده چې ښځې دې په

هغو تخنیکي ټیمونو او کمېټو کې شاملې شي چې دنده یې د سولې د بهیر د لومړیتوبونو ټاکل، د شخړو درول او د اوربند د شرایطو منلو ته د نورو هڅول دي. همدارنګه ښځې باید په هغو اورګانونو کې ګډون ولري چې د بشر حقونو د نقضولو پېښې، لکه د جنسي تاوتریخوالي پېښې ثبتوي، څېړي او د راتلونکو تاوتریخوالیو د راکمولو لپاره ګامونه اخلي (دا موردونه په اړوندو ضمیمو کې راغلي دي)

- په نظارتي بنسټونو کې د ښځو لپاره د څوکیو د مشخص شمېر یا مشخصې سلنې په پام کې نیول، چې د "لر تر لره" اصطلاح ورسره مله وي، د اوربند او سولې په نظارتي فعالیتونو کې د ښځو او مدني ټولنو د ګډون او همدا راز په دې برخه د فرهنګ جوړولو لپاره تر ټولو واضح لومړی ګام دی.
- د ښځو بېلابېلې ډلې باید د سولې د ترون فیمینستی نیوکه یا "جنسیتي ایډیټ" په پام کې ونیسي (۶ شمېره چوکاټ وګورئ) چې په ترون کې دغه موردونه جوت شي: الف) په ترون کې جنسیتي مقررات او موردونه راغلي دي که نه؟ ب) کوم مهم مورد یا فرصت ور نه پاتې شوی دی که نه؟ د دې لپاره چې د سولې پر پروسه نړیوال فشارونه پاتې وي او د اوربند او د سولې په پروسه کې د مېرمنو غږ، تجربې او غوښتنې شاملې شي، دا مورد باید د ټولو وګړو غوړونو ته ورسېږي.

### شپږم چوکاټ: جنسیتي اېډېټ څه دی؟

د میانمار د سولې په پروسه کې، د دې هېواد د مدني ټولنو فعالو مېرمنو د سراسري اوربند د ترون فیمینستی نیوکه یا «جنسیتي ایډیټ» وکړ. دا کار څکه وشو چې د دې سند قوي ټکي او محدودیتونه په ډاګه شي. دا په نړۍ کې لومړی ځل لپاره ترسره او ښودل شوی . د دې کار پایله دا شوه چې خلک وپوهېږي چې ښځې او د هغوی آجنډا د مذاکراتو په بهیر کې په کافي اندازه په پام کې نه دي نیول شوې. دې مېرمنو داسې لارې چارې وښودلې چې ورباندې د ښځو ګډون او د هغوی د جنسیتي اندېښنو لومړیتوبونه په لا ښه شان سره معلوم او پلي شي.

سرچینه: AGIPP، ۲۰۱۸.

# سرچيني:

Ahmadi, Belquis and Parkes, Matthew, 2020. "Afghan Peace Process Tests Women Activists," United States Institute of Peace (USIP), 27 October. https://www.usip.org/index.php/publications/2020/10/afghan-peace-process-tests-women-activists. Accessed 6 January.

AIHRC (Afghanistan Independent Human Rights Commission), 2021. "Report Summary: Civilian Casualties in 2020." https://www.aihrc.org.af/home/thematic-reports/9057# . Accessed 5 May 2021.

AGIPP (Alliance for Gender Inclusion in the Peace Process),2018. "If Half the Population Mattered: A Critique of the Myanmar Nationwide Ceasefire Agreement and Joint Monitoring Committee Framework from a Gender Perspective." AGIPP Policy Brief. https://www.agipp.org/sites/agipp.org/files/if_half_the_population_mattered_a_critique_of_the_myanmar_nationwide_ceasefire_agreement_and_joint_monitoring_committee_framework_from_a_gender_perspective.pdf . Accessed 1 June.

Allen, John R. and Felbab-Brown, Vanda. 2020. "The fate of women's rights in Afghanistan," 19A: The Brookings Gender Equality Series. Brookings Institute, September. https://www.brookings.edu/essay/the-fate-of-womens-rights-in-afghanistan/. Accessed 3 January.

AWN (Afghan Women's Network), 2020. "Afghan women urge OIC members to call for a ceasefire." AWN, 1 October. Webpage. http://awn-af.net/index.php/cms/press_detail/1655/12. Accessed 2 January.

Barsa, Michelle, Holt-Ivry, Olivia, and Muehlenbeck, Allison, 2016. "Inclusive Ceasefires: Women, gender and a sustainable end to violence," Inclusive Security. https://www.inclusivesecurity.org/wp-content/uploads/2016/03/Inclusive-Ceasefires-ISA-paper-Final-3.10.2016.pdf. Accessed 5 January.

BBC News, 2020. "Afghanistan: Taliban announce three-day Eid ceasefire with government." 24 May. https://www.bbc.com/news/world-asia-52785604. 29 January 2021.

Bell, Catherine, 2013. Women and peace processes, negotiations, and agreements: operational opportunities and challenges. Policy Brief. Norwegian Peacebuilding Resource Centre (NOREF), February. http://www.peacewomen.org/sites/default/files/christine_bell_0.pdf. Accessed 30 December 2020.

Brickhill, J. 2007. Protecting civilians through peace agreements. Challenges and lessons of the Darfur peace agreement. ISS paper 138. Pretoria: Institute for Security Studies.

Buchanan, Cate, and Williscroft, Caitlin, 2016. "The Women are Ready: An Opportunity to Transform Peace in Myanmar, " Peace Support Fund (Paung Sie Facility). https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/ the_women_are_ready_english__1.pdf. Accessed 1 June.

Centre for Public Impact, 2016. Building trust in government: Afghanistan's National Solidarity

Proramme (NSP). 30th March. Online article. https://www.centreforpublicimpact.org/case-study/building-trust-in-government-afghanistans-national-solidarity-program/. Accessed 1 January 2021.

Chounet-Cambas, L. 2011. Negotiating ceasefires: dilemmas and options for mediators. Geneva: Centre for Humanitarian Dialogue.

———. 2016. Ceasefires. GSDRC Professional Development Reading Pack no. 41. Birmingham, UK: University of Birmingham.

Council on Foreign Relations, 2020. Myanmar Case Study. Current Peace Effort. Webpage. https://www.cfr.org/womens-participation-in-peace-processes/myanmar. Accessed 5 January 2020.

DPPA (United Nations Department of Political and Peacebuilding Affairs) and UN Women, 2020. COVID-19 and Conflict: Advancing Women's Meaningful Participation in Ceasefires and Peace Processes. Policy Brief No. 19. DPPA and UN Women. https://www.un.org/sexualviolenceinconflict/wp-content/uploads/2020/08/report/covid-19-and-conflict-advancing-womens-meaningful-participation-in-ceasefires-and-peace-processes/Final-Policy-Brief-No19_COVID-19-and-Conflict.pdf Accessed 30 December 2020.

Farhat, Wali, 2020. "The Role of Women in the Afghan Peace Process: Opportunities and Challenges." Sustainable Development Solutions Network, 31 March. https://www.unsdsn.org/the-role-of-women-in-the-afghan-peace-process-opportunities-and-challenges. Accessed 5 January.

Forster, R. and Bell, C., 2019. "Gender mainstreaming in Ceasefires, Comparative Data and Examples." PA-X Spotlight: Gender. UN Women. https://www.politicalsettlements.org/wp-content/uploads/2019/08/PA-X-Spotlight-Ceasefires-Digital.pdf

Fortna, Virginia Page, 2004. Peace time: Cease-fire agreements and the durability of peace. Princeton University Press.

Gasser, Rachel, 2014. "Supporting Women's Voices in the Current Peace Process." Swisspeace, pp. 14–22, Working in and on Myanmar: Reflections on a 'Light Footprint' Approach, ed. Gasser, R., Bächtold, S., Palmiano, J., Alluri, R., & Stein, S. www.jstor.org/stable/resrep11116.5. Accessed 4 January.

Gates, Scott, Nygård, Håvard Mokleiv and Trappeniers, Esther, 2016. Conflict Recurrence, Conflict Trends, 2. Oslo: PRIO.

Hudson, Valerie, Ballif-Spanvill, Bonnie, Caprioli, Mary and Emmett, Chad F., 2012. Sex and World Peace. Columbia University Press, New York.

ICAN (International Civil Society Action Network), 2019. "10 Steps to Ensure Gender Responsive Processes & Ceasefire Agreements," Better Peace Initiatives. ICAN. https://www.icanpeacework.org/wp-content/uploads/2019/01/ICAN-BPI-Steps-for-Inclusion-in-Ceasefire-Agreements.pdf

ICG (International Crisis Group), 2018. 'Building on Afghanistan's Fleeting Ceasefire', International Crisis Group Report. https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/298-building-afghanistans-fleeting-ceasefire. Accessed 2 January.

Islamic Republic of Afghanistan, Office of the First Lady, 2019. "National Declaration: Afghan Women's National Consensus for Peace." https://firstlady.gov.af/en/final_declaration. Accessed 5 January.

Jacevic, Miki, 2014. "The Latest Country to Adopt a Women, Peace and Security Policy May Surprise You," Inclusive Security. 19 November. https://www.inclusivesecurity.org/2014/11/19/latest-country-to-adopt-women-peace-and-security-policy/. Accessed 5 January.

Jenkins Rob and Goetz, Anne Marie, 2010. "Addressing Sexual Violence in Internationally Mediated Peace Negotiations," International Peacekeeping, 17(2), pp. 261-277.

Karakus, Dogukan Cansin and Svensson, Isak. 2017. «Between the Bombs: Exploring Partial Ceasefires in the Syrian Civil War, 2011-2017." Terrorism and Political Violence, 1-20.

Marie O'Reilly, Andrea Ó Súilleabháin, and Thania Paffenholz, 2015. Reimagining Peacemaking: Women's Roles in Peace Processes, International Peace Institute, New York, June.

Monash University, 2020. "Gender Analysis of Agreement for Bringing Peace to Afghanistan 2020," Monash Gender Peace and Security. https://www.monash.edu/__data/assets/pdf_file/0007/2150872/Aghanistan-Research-Brief-V2.pdf. Accessed 20 January 2021.

Pospisil, Jan and Bell, Christine, 2018. 'Securing' Peace: Women and Security Arrangements in Peace Processes. UN Women. https://www.politicalsettlements.org/wp-content/uploads/2018/12/Inclusive-peace-processes-Securing-peace-en.pdf. Accessed 30 January 2021.

Rahmani, Roya, 2020. "Afghan Women Should Be Centerpiece of the Peace Process" Foreign Policy, August 10. https://foreignpolicy.com/2020/08/10/afghan-women-should-be-the-centerpiece-of-the-peace-process/. Accessed 3 January.

UNAMA (United Nations Assistance Mission in Afghanistan) and the OHCHR (Office of the High Commissioner for Human Rights), 2020. "Afghanistan. Annual Report on Protection of Civilians in Armed Conflict 2020."

https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_annual_report_2019_-_22_february.pdf. Accessed 30 January 2021.

UNAMA (United Nations Assistance Mission in Afghanistan), 2014. "Afghan High Peace Council Members Present 250,000 signature petition calling for peace to UN." https://unama.unmissions.org/afghan-high-peace-council-members-present-250000-signature-petition-calling-peace-un. Accessed 5

January.

———, 2020. "Afghanistan: Protection of Civilians in Armed Conflict Third Quarter Report: 1 January to 30 September 2020. Afghanistan Third Quarter Report on Protection of Civilians in Armed Conflict: 2020. https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_protection_of_civilians_in_armed_conflict_-_3rd_quarter_report_2020.pdf. Accessed 30 January 2021.

United Nations, 2012. Guidance for Mediators: Addressing Conflict-Related Sexual Violence in Ceasefire and Peace Agreements. Department of Political Affairs (DPA), Policy and Mediation Division, New York. https://peacemaker.un.org/sites/peacemaker.un.org/files/GuidanceAdressingConflictRelatedSexualViolence_UNDPA%28english%29_1.pdf. Accessed 6 January.

———, 2020a. Women and peace and security. Report of the Secretary-General. S/2020/946. 25 September. https://wpsn-canada.org/wp-content/uploads/2020/11/S_2020_946_E.pdf. Accessed 29 December 2020.

———, 2020b. The Situation in Afghanistan and its implications for international peace and security. Report of the Secretary-General. S/2020/1182. 9 December. https://www.securitycouncilreport.org/atf/cf/%7B65BFCF9B-6D27-4E9C-8CD3-CF6E4FF96FF9%7D/A_75_634_E.pdf Accessed 29 December 2020.

———, 2020c. Communiqué. 2020 Afghanistan Conference, 23-24 November, Geneva. https://um.fi/documents/35732/0/Communiqu%C3%A9+2020+Afghanistan+Conference+%281%29.pdf/50a27a60-402e-6f32-8e11-7253024f5cff?t=1606233928329. Accessed 30 December.

———, 2020d. Covid-19 and Conflict: Advancing Women's Meaningful Participation in Ceasefires and Peace Processes. Policy Brief No. 19. UN Department of Political and Peacebuilding Affairs (DPPA) and UN Women, New York.

Waring, Marilyn, Greenwood, Gaye and Pintat, Christine, 2000. Politics: Women's Insight. Inter-Parliamentary Union (IPU), Geneva.

World Bank, 2011. World Development Report 2011: Conflict, Security and Development. World Bank, Washington, DC.

## ۱ضمیمه. په تر مذاکراتو وړاندې پړاو کې د ښځو د ګډون ارزښت

د اوربند لپاره د مذاکراتو مخکني فعالیتونه باید د سولې په ټوله پروسه کې د ښځو د ګډون زمینه مساعده کړي او د ښځو او مذاکره‌چیانو تر منځ د باور د ایجاد لامل شي. په دې حال کې، معمولاً د پروسو په دې پړاو کې د جګړې ټولې ښکېلې غاړې شاملې نه وي. د مذاکرې مېز ته د ټولو لوریو د رسولو لپاره باید معمولاً د زندانیانو د خوشې کولو او تبادلې پر اړوندو مسایلو (لکه د افغانستان قضیه) او یا په تبعید کې د اوسېدنکو کسانو د ملاتړ پر ژمنو هوکړه وشي. پر دې اساس تر مذاکراتو وړاندې هوکړې کولای شي چې د مذاکره‌چیانو د بشپړنې، لنډمهاله اوربند، د بشر حقونو د ملاتړ او د هوکړه‌لیک د موارد و د نقض د څارنې مېکانیزم جوړ کړي. همدا ډول تر مذاکراتو وړاندې هوکړې کېدای شي چې د مذاکراتو د اجنډا د ټاکلو لپاره پیل شي، څکه په دې پړاو کې دواړه مذاکره‌چي لوري په مذاکراتو کې د خپل ځای ځایګي په معلوماتو پیل کوي. پر دې اساس دا یوه موقع ده چې د ښځو د ګروپونو د همغږۍ او فعالیت فضا ایجاد شي. تر مذاکراتو مخکې فعالیتونه د مذاکراتو پر اساسي کړنلاره او د راتلونکي حکومت پر جوړښتونو اغېز کولای شي. (Bell، ۲۰۱۳)

یادو شویو مسایلو ته په پام سره د سولې په برخه کې فعالې ښځې او د ښځو تر مشرۍ لاندې ګروپونه د لاندې مواردو په رعایت سره د اوربند د هوکړه‌لیک په ایجاد کې جنسیتي اړتیاوو ته ځواب ویلای شي:

- د سولې اړوند پروسو کې تر خبرو وړاندې په مختلفو کچو لکه (دولت، رسنیو، نړیوالو کنفرانسونو او نورو غونډو) کې د جنسیتي اړخونو پیاوړي کول، چې د مذاکرې لوري له هماغه پیله د ښځو د حقونو ملاتړ ته ژمن شي. د بېلګې په توګه په افغانستان کې د ښځو فعالو ګروپونو لکه "زموږ غږ"، "زموږ راتلونکی"، "د افغان ښځو شبکې" او "له یو بل سره زورور" نړیوالو مشرانو لکه د المان، اندونیزیا، ناروې، قطر، د امریکا متحده ایالاتو او ازبکستان رهبرانو ته لیک ولیکه، په هغه کې یې ترې غوښتي و چې د سولې د یوې داسې ټولشموله پروسې ملاتړ وکړي چې د ټولو افغانانو د اساسي بشري حقونو ساتنه وکړي. په همدې حال کې دوی د ښځو حقونو ته د زیاتې پاملرنې، د ښځو د سیاسي مشارکت او بې‌طرفۍ غوښتنه وکړه. دغه موضوع له نیوکو سره مخ شوه؛ په تېره بیا طالبان پر دې نظر دي چې د ښځو پر حقونو ټینګار د خاصو حکومتي کړیو او بهرنیانو مفکوره ده. د ښځو اړوند دغه نظر د افغانستان د ټولو ښارې او کلیوالې ښځو له خوا، د ولایتونو په کچه د سولې د شوراګانو او همدارنګه د سولې د هوکړه لیک په اوږدو کې د هېواد د اړتیاوو په اړه په محلي خبرو اترو کې هم رد شوې ده.
- (Ahmadi and Parkes، ۲۰۲۰)
- د سولې د معمارانو او په سیمه‌ییزه کچه د سولې د رهبرانو په توګه د ښځو د پراخ او برابر ګډون په اړه ډاډ تر لاسه کول؛ له دې ډلې د خبرو اترو او باور جوړونې اړوند اقداماتو او همدارنګه د مذاکرې او منځګړو په ټیمونو کې د جنډر او متخصصانو شاملول. د بېلګې په ډول، په ۲۰۱۹ کال کې ۱۵۰۰۰ افغان مېرمنو د سولې په یوه جرګه کې، چې یوه دودیزه مشورتي جرګه وه، ګډون وکړ. د مېرمنو د دودیز مشارکت دغه ښکاره بېنه د افغانستان د مختلفو سیمو مېرمنو له خوا په پراخه کچه د سولې لپاره د دوی د غوښتنو او لیدلوریو اړوند د قاطع څرګندونو سبب شوه چې د بې‌قیده او شرطه اوربند غوښتنه هم پکې وه. (Ibid. Islamic Republic of Afghanistan، ۲۰۱۹). تر دې وړاندې هم له هر ولایت او لرو پرتو سیمو څخه تر (۲۵۰۰۰۰) د ډېرو افغان ښځو او نجونو لاسلیکونه راټول کړل، دوی له ۲۰۱۴ کال راهیسې د اوربند او سولې غوښتونکې وې. دغه لاسلیکونه یې د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته د رسېدو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستیال دفتر (یوناما) ته وسپارل. (UNAMA، ۲۰۱٤). پر دې اساس ښځې نه یوازې د شخړو په حل او فصل او منځګړتوب کې اساسي رول لري، بلکې د سولې پروسې ته د مخکنیو حاشیې ته شویو ګروپونو په راوستلو او له سولې د پراخ عمومي ملاتړ په ایجاد کې هم رول لري.
- د خپلې ونډې د ټاکلو لپاره پر سیاستوالو، قانون‌جوړوونکو، نړیوالو مرستندویانو او منځګړو هېوداونو فشار راوړل، په ایډیال حالت کې د اوربند د هوکړه‌لیک په تیارولو کې د ښځو ۵۰ سلنه، ګډون او د امکان په صورت کې مذاکره‌چیانو ته د تخنیکي روزنې ورکول.
- د ټولو مذکره‌چیانو د تخنیکي روزنې اړوند بودجې د تأمین لپاره د دولت او نړیوالو مرستندویو بنسټونو او سازمانونو

هڅول، په ځانګړي ډول د مذاکراتو ګډونوال امنيتي پرسونل ته په اوربند کې د جنسيتي اړخونو اړوند روزنه ورکول.

- له نړيوالو مرستندويو موسسو سره د مالي سرچينو د برابرولو لپاره خبرې، چې د ښځو پراخ پاړکی د سولې په مختلفو پړاوونو کې ګډون وکړای شي.
- د ټولنې او مدني ټولنې په کچه د سولې پروسو کې د ښځو د تعامل له لارې د اسانتياوو د بېلګو مستندول (د شويو هوکړو غوندې). د بېلګې په ډول افغانستان کې ښځو په برياليتوب سره جنګيالي دې ته هڅولي دي چې د سولې په خبرو کې ګډون وکړي، د شراچوونکو له مېرمنو سره يې د زندانيانو د خوشي کولو لپاره د همغږۍ اسانتيا رامنځته کړې ده(Jacevic، ۲۰۱٤) او په ښوونځيو او د مدني ټولنې په بنسټونو کې له سختدريځۍ سره د مقابلې لپاره کار شوی دی. (Rahmani، ۲۰۲۰)
- د امکان په صورت کې له عامو خلکو، په تېره بيا له ښځو سره، د سيمه‌ييزو مشورو کول، چې د جنډر اړوند تفکيک شوي معلومات، ليدلوري او تجربې راټول کړي، چې په مختلفو برخو کې د خلکو پراخ تنوع په نظر کې نيسي. په دې مشورو کې بايد د ټولو مواردو اړوند، لکه د خلکو د مختلفو ډلو له خوا د بشر حقونو له سرغړونو نيولې تر امنيتي مسايلو، لکه د بريد اړوند لومړنيو نښو نښانو، سيمه‌ييز امن، د ټولنې او شتمنيو د ساتنې او نورو برخو اړوند معلومات راټول شي. د بېلګې په توګه، د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسون (AIHRC) د هغو جګړو د جنګي جنايتونو او د بشر حقونو د نقض پراخه او ژوره مستندسازي کړې ده چې له ۱۹۷۸ نيولې تر ۲۰۰۱ پړاو کې شوې دي او په پايله کې يې د جګړو او بريدونو د نقشې يو (ناخپور شوي راپور ۲۰۱۲) تيار شوی دی.
- د دې ډاډ ترلاسه کول چې د جنسي تاوتريخوالي مذنونين او مسولين چې د جګړو پر مهال يې جنسي تاوتريخوالي ترسره کړي په دې خبرو کې له ګډونه څنډې ته شي او په عمومي ډول د سولې له پروسې، په دولت کې له ادغام او له امنيتي سيستمونو حذف شي.

# ۲ ضمیمه. د اوربند په هوکړه‌لیک کې د ښځو د ګډون شواهدو او د جنسیت اړوندو مقرراتو ته کتنه

آن د اوربند تر ټولو لومړني هوکړه‌لیکونه، بې له دې چې د ښځو د استازولۍ او جنسیتي برابرۍ اړوند خبره وشي، جنسیتي پایلې لري. دغه چاره به، لکه د سریلانکا اړوند قضیه ( لاندې متن ته مراجعه وکړئ)، د ډېرو بدو پایلو سبب شي. په همدې حال کې په هغه صورت کېږي هم دغه موضوع به د سولې پروسې په راروانو پړاوونو کې د ښځو د ګډون تضمین و نه کړي چې د سولې په هوکړه‌لیک کې د جنسیت اړوند مقررات وسنجول شي. (لکه د میانمار هېواد په بېلګه کې چې یې وینو) پر دې اساس لاندې څو بېلګې د سولې په هوکړه‌لیکونو کې د جنسیتي مقرراتو د سنجولو او د ښځو د ګډون څرنګوالی راښیي. همدا ډول دغه بېلګې په ضمني ډول په راتلونکو خبرو او هوکړه‌لیکونو کې د ښځو د ګډون څرنګوالی او زیات تعامل او د سولې د پروسې د څارنې او اجراآتو بهیر هم څرګندوي.

### د کانګو ډیموکراټیک جمهوریت (۱۹۹۹-۲۰۰۳):

په ۱۹۹۹ کې د لوساکا په اوربند کې په ځانګړي ډول د جنسي تاوتریخوالي ترسره کول د بشر حقونو د نقض او په پایله کې د اوربند د نقض په توګه ذکر کړل. د سولې پروسې په جریان کې د جنسیت اړوندو تعاملاتو او مقرراتو پر تعقیب باندې ډېر ټینګار وشو. هغه هوکړه‌لیکونه چې د دې په تعقیب لاسلیک شول، په ملي بنسټونو کې یې د ښځو استازي د ۳۰ سلنه ونډې له لارې وټاکل. همدا ډول دغو هوکړه‌لیکونو د ښځو لپاره د هغوی د حقونو په چوکاټ کې د څو بنسټونو او دولتي ادارو پر ایجاد ټینګار کاوه، چې لاندې بېلګو ته یې اشاره کولای شو: د فامیلي چارو او ښځو چارو د یو وزارت ایجاد؛ د کار مساوي حقوق، د رایې حق او زده‌کړو ته د لاسرسي حق، رواني پیاوړتیا، پورونو ته لاسرسی، د هوکړه‌لیکونو د عملي کولو په برخه کې د ښځو د مختلفو ډلو داخلول او د ملي حقیقت او روغې جوړې په کمېټه کې د جنسي تاوتریخوالو د ثبت لپاره د بنسټ رامنځته کول.

**مهمې موندنې:** د ښځو د مشارکت لپاره **د هغوی ونډه او همدا رنګه په دولتي ادارو کې د هغوی لپاره د ځانګړو ادارو او ځانګو شتون، چې د ښځو په چارو پورې اړوند خدمات** عرضه کړي، د سولې په پروسه کې د مېرمنو اغېزمن ګډون ته لاره هواروي او په دې برخه کې د دولت لخوا اصلاحات خورا مهم بلل کېږي.

### میانمار (۲۰۱۵)

۲۰۱۲ او ۲۰۱۵ کلونو تر منځ د میانمار دولت له قومي وسلوالو ډلو سره، چې د (EAOs) په نوم پېژندل کېدې، د سراسري اوربند د په موخه یو لړ هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړل. د دغو چارو مهمه برخه په ۲۰۱۵ کې ترسره شوه، هغه وخت چې د ۱۶ وسله‌والو قومي ډلو له منځه یې له ۸ ډلو سره د سراسري اوربند هوکړه‌لیک لاسلیک کړ. وروسته په ۲۰۱۸ کې دوه نورو ډلو هم دا لاسلیک وکړ. د دې پروسې د ټولشموله کېدو په خاطر له فشارونو سره سره د مدني ټولنې فعالان او ښځې تر ډېره حده له دې پروسې څنډې ته کړل شوې. د سراسري اوربند د دوه کلنو مذاکراتو په لړ کې په کلي ډول پنځه سلنه ښځو ګډون درلود. د لېږل شوي پلاوي د ۱۵ لوړپوړو غړو له ډلې یوازې ۲ یې مېرمنې وې. د پام وړ ټکی دا دی چې د ۲۰۱۵ کال په جون کې له دې دوو مېرمنو یوه یې، چې (Zipporah Sein) نومېده د پلاوي د مشرې په توګه وټاکل شوه. بله مېرمن چې (Saw Mra Raza Lin) نومېده، د لېږل شوي پلاوي له ۱۳ غړو یوازېنۍ مېرمن وه چې په ټول هېواد کې د اوربند د همغږۍ په ټیم (NCCT) کې وه. دغه ټیم چې له ۱۶اصلي وسله‌والو ډلو جوړ و، هوکړه وکړه چې د سراسري اوربند پر یوه واحد سند کار وکړي. هم د خبرو لپاره د لېږل شوي پلاوي ټیم او هم د سراسري اوربند د همغږۍ ټیم په خپل ترکیب کې دوې ښځې د رسمي تخنیکي د سلاکارانو په توګه درلودې. د دولت د خبرو کولو د رسمي پلاوي په ترکیب کې، چې د سولې د کاري کمېټې په نوم یادېده، له ۵۲ غړو ۲ مېرمنې چې د پارلمان غړې هم وې شاملې وې. ددریم پلاوي په مرکزي کمېټه کې، چې د سولې د کاري کمېټې په نوم یادېده او ۱۱ غړي یې درلودل، هیڅ مېرمن شامله نه وه. په نهایت کې د اوربند

د سراسري هوکړې په لاسلیکوونکو کې ډېرې لږې ښځې شاملې وې، داسې چې د ۱۰ لاسلیکوونکو له ډلې چې د دولت له لوري معرفي شوي ول، یوه مېرمن، د وسلوالو قومي ډلو د ۲۴ لاسلیکوونکو له ډلې یوه ښځه، د ۲۱ لاسلیکوونکو ناظرینو له ډلې دوې ښځې او د نړیوالو ناظرینو په ډلې کې هیڅ ښځې حضور نه درلود.

د اوربند ۱۲ پاڼې هوکړه‌لیک بلاخره د ښځو اړوند مواردو او د جنسیت د موضوع اړوندو دریو برخو ته پام وکړ: اساسي اصول، د ملکیانو ساتنه او په سیاسي خبرو کې ګډون. د یادولو وړ ده چې جنسي تاوتریخوالی له ملکیانو د ملاتړ تر بند لاندې ذکر شوی و، خو په داسې کمزورې ژبه اشاره ورته شوې:"د جنسي تاوتریخوالي مخنیوی باید وشي.". په داسې حال کې چې ټمه وه جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي ته په صراحت سره د هوکړه‌لیک د نقض په توګه کتل شوي وای. همدا ډول د جنسي او جنسیتي تاوتریخواتلي د پیدا کېدو د مواردو د ارزونې لپاره هیڅ مېکانېزم نه و او دغه دنده د څارنې له ګډ ټیم څخه چې له دولت، اردو او وسله‌والو قومي ګروپونو جوړ و، پر غاړه و. دا کار ملکیانو ته د دغو مواردو په نظارت او څارنه کې ډېر کم رول ورکوي. د هېواد په کچه د ښځو د ګډون لپاره د طرحې او تطبیق د څارنې ټیمونو ته ونډه نه ده ورکړل شوې. په نهایت کې د اوربند اړوند هوکړه‌لیک کې ذکر شوي دي چې د سیاسي خبرو په پروسو کې به د ښځو "شمېر/ مناسبه اندازه" په پام کې ونیول شي. حال دا چې په دې سند کې د "مناسب شمېر" اړوند څه نه دي ویل شوي. په داسې حال کې چې د ښځو د ۳۰ سلنه ونډې خبره کېده، خو دغه موضوع د سراسري اوربند د هوکړه‌لیک په ورستي متن کې واضح شوې نه ده.

د سراسری اوربند د هوکړې لاسلیک د سولې اتحادیې د کنفرانس (UPC) په نوم د سولې د رسمي پروسې د پیل سبب شو، چې دغه پروسه د ۲۰۱۶ په لومړیو کې پیل شوه. د سراسري سولې په هوکړه‌لیک کې د "شمېر/ په سیاسي خبرو کې د ښځو د استازولۍ لپاره مناسب شمېر" تریادونې وروسته د سیاسي خبرو چوکاټ ته انتقال شوه چې ښکېل لوري یې په مذاکره کوونکې پلاوي کې د ښځو د ګډون لپاره ۳۰ سلنه ونډې ورکولو ته هڅول. په دې حال کې د سولې خبرو په مشترکه اتحادیه (UPDJC) کې، چې د سولې کنفرانس رهبري کوونکی بنسټ و، یوازې دوو ښځو فعالیت کاوه. د سولې اتحادیې د لومړي کنفرانس د تشکیل په وخت اووه سلنه ښځې وې. سره له دې چې دغه کچه د ۲۰۱۸ تر جولای پورې ۲۲ سلنې ته لوړه شوه، خو د ۲۰۲۰ تر اګسټ پورې بېرته ۱۷ فیصدو ته راټیټه شوه. (د بهرنیو اړیکو شورا، ۲۰۲۰). پر دې سربېره د ښځو د مشارکت ۳۰ سلنه معیار نورو تخنیکي بنسټونو، لکه د اتحادیې یا ایالت په کچه د پروګرام جوړولو او اجرا ټیمونو ته پراخ نشو. له همدې کبله، هیڅ ښځې په ملي کچه د اوربند د څارنې په ګډه کمېټه او یا د همغږۍ په ګډ ګروپ کې حضور نه درلود.

## جنوبي سوډان (۲۰۱۴- ۲۰۱۵)

**مهمې موندنې:** په داسې حال کې چې د جنسیت اړوند د اوربند د هوکړهلیک متن نسبتاً پرمختللی دی او په صراحت سره د دریو جنسیتي بندونو ذکر پکې شوی، **خو د اوربند د هوکړه‌لیک د مذاکرې د مېز په لومړیو پړاوونو کې د ښځو نشتوالی ممکن د سولې په راروانو مذاکراتو کې د ښځو د محدود حضور سبب شي.** لکه څنګه چې د میرمنو د ویستلو بیلګه او منطق په لومړي مرحله کې تنظیم شوې وه. ممکنه ده چې دغه کار د ځانګړو جنسیتي سرغړونو اړوند د راتولو شویو راپورونو پر ډول او کیفیت مستقیم اغېز وکړي. له انتقادي نظره، له هغه ځایه چې د سراسري اوربند هوکړه‌لیک د سیاسي خبرو لپاره بنسټ ایجاد کړ، خو د ښځو د ګډون په برخه کې د کمزورې ژبې استفاده، د سولې په پروسو کې، چې د اوربند د هوکړه‌لیک تر لاسلیک وروسته پیل شوې، د ښځو د ګډون لپاره یې کمه زمینه مساعده کړه (Barsa، Holt-Ivry and Muehlenbeck، ۲۰۱۶) . **سربېره پردې ، د حساب ورکونې میکانیزم نشتوالی یو عمده عامل وچې د سیاسي خبرو اترو پروسې کې ۳۰٪ جنډر کوټې موافقه شوې او په پای کې د سولې په پروسه کې ښځې حاشیې ته وغورځېدې.**

د ۲۰۱۴ په جنوري کې، د دښمنیو د دربېدو لپاره د جنوبي سوډان د دولت او د سوډان د خلکو د یوې ډلې "د ازادۍ حرکت"تر منځ یو بېړنی هوکړه‌لیک لاسلیک شو. په مذاکراتو کې د ښځو دګډون او معنادار حضور نشتوالي د ترلاسه شوې هوکړې پر جوړښت او تطبیق ډېر اغېز درلود. هغه پلاوی چې د جنوبي سوډان د دولت له لوري ټاکل شوی و د مذاکرې لپاره یې هېڅ ښځه نه وه ګومارلې، په داسې حال کې چې د مخالفانو د پلاوي په لس نفري ترکیب کې درې ښځې وې. د مذاکراتو

پروسې انحصاري بڼه درلوده او د مذاکراتو لنډ زماني جدول (پنځه اونۍ) د مدني ټولنې ډلې ځنډې ته کړې. دا په داسې حال کې وه چې د جنوبي سوډان ښځې د جګړې له لومړيو ورځو داسې تنظیم شوې وې چې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو غوښتنه او د يوې داسې ټولشموله پروسې پلوي به کوي چې په هغې کې ښځې او نورې بېلابېلې ډلې ګډون وکولای شي. د هوکړه‌لیک تر لاسلیک وړاندې، چې په پایله کې ناکام شکاري، د جنوبي سوډان رهبرې ښځې په کامپالا کې "د تاوتریخوالي د سملاسي درېدو او د اوربند د څارنې او منځګړو په ټیمونو کې د لږ تر لږه ۲۵ سلنه ښځو د ګډون غوښتونکې شوې." (لکه په " Barsa، Holt-Ivry and Muehlenbeck، ۲۰۱٦" کې چې ویل شوي.)

له دې سره، د دښمنیو د درېدو په هوکړه‌لیک (CoH) کې کارول شوې ژبې، چې یو اووه پاڼې سند و او د سولې لپاره یو جامع هوکړه‌لیک نه دی- د نقض په صورت کې د ښځو نظارتي نقش او جنسیتي اړتیاوو ته ځواب نشو ویلای. په دغه سند کې دې ته هېڅ اشاره نه ده شوې چې ښځې، نجونې، سړي او ماشومان څه ډول په بېلابېلو ډولونو له جګړو اغېزمنېږي او هغه بېلابېل رولونه نه دي تشخیص شوي چې دغه ډلې یې لري. په دې سند کې جنسي تاوتریخوالی په واضح ډول منع بلل شوی و، سره له دې چې دغه مورد په کمزورې ژبه بیان شوی و:"ښکېلې غاړې باید له جنسي تېري ډډه وکړي..." خو سره له دې په یاد سند کې د جنسي تاوتریخوالي مستندې کړنې د خصومتونو د درېدو د هوکړه‌لیک نقض ګڼل کېږي. همدا ډول په دې سند کې د جنسي تېري، ناسمې جنسي استفادې/ جنسي استثمار او یا جنسي تاوتریخوالي واضح تعریف موجود نه و.

همدا رنګه د خصومتونو د درېدو د هوکړه‌لیک د تایید او څارنې مېکانېزم (MVM) او د څارنې او تایید ټیمونه (MVT) ایجاد کړل، خو د جنسیتي تعادل او د حارنې او تایید په برخه کې د ښځو د حداقل ونډې اړوند هیڅ وضاحت موجود نه و. دا په دې ټولنو کې د ښځو د الزامي ګډون او جنسیتي اړتیاوو ته د دغو بنسټونو د ځواب د اطمینان یوه له لاسه وتلې موقع وه. په حقیقت کې د تایید او څارنې ټیمونه چې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو کې جوړ شول او د ټولو شپږو ټیمونو هر ټیم چې له ۱۳ کسانو تشکیل شوی و، تقریبا په بشپړ ډول د نورو هېوادونو له برحاله او تقاعد شویو نظامیانو څخه جوړ شوي وو. په داسې حال کې چې وروسته له جنوبي سوډان څخه د منځګړو د استخدام لپاره هڅې ترسره شوې چې د سیمه‌ییزو کمېټو د جوړولو مسوولیت یې درلود او ښځې د دې کار غوښتنو ته هڅول کېدې، خو په پایله کې فزیکي جوړښت؛ په خېمو کې استوګنې ښځې له دې دندو منصرفولې. پر دې اساس د تایید او څارنې ټیمونو ځینو مسایلو ته لکه د ملکیانو (په ځانګړې توګه ښځو) ملاتړ او بشردوستانه لاسرسي ته پام و نه کړ، ځکه تر نظامي ګامونو په څارنه او نظارت کې راحتوو. دغه کار د سیمه‌ییزې ټولنې له غړو سره د نه ایجاد شوي باور له امله د هوکړه‌لیک د مواردو د نیمګړې ارزونې او د تاوتریخوالي د دوام – په ځانګړې توګه د بې سنده جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي سبب شو. یوازې تر هغه وروسته چې د جنوبي سوډان د عدالت غوښتونکو ګروپ (د ښځو د ګډون کاري ډلې) د تایید او څارنې د برخې له رهبري سره د ښځو د اندېښنو د شریکولو لپاره خپلې غوښتنې شریکې کړې او همدا ډول د امریکا دولت (د اصلي مالي ملاتړي په توګه) فشار وارد کړ، ډېرې ښځې استخدام شوې او د څارنې په ټیمونو کې هم د جنسیت اړوند اصلي جریان تایید او رامنځته شو او لږ تر لږه د ښځو د ټولنیز منځګړتوب اړوند درې پوستونه ډک شول. داسې استدلال وشو چې دغو ښځو له بشرپالو او ملکي ټولنو سره د اعتماد په ایجاد کې تر ټولو ډېر اغېز درلود (Barsa، Holt-Ivry and Muehlenbeck، ۲۰۱٦).

خو له دې سره سره د ښځو ډلو د جګړو د ختمولو په هغه تړون کې چې د ۲۰۱۵ په اګسټ کې وشو، حضور درلود.

همدا ډول د جنوبي سوډان د ښځو د بلوک له لوري د سولې په بهیر کې د یو دخیل اړخ په توګه یوې ښځې هوکړه‌لیک لاسلیک کړ. د ۲۰۱۵ کال هوکړه‌لیک د جنډر وزارت پر ایجاد پر تایید سربېره، ماشومان او ټولنیزه هوساینه، په وزارتونو او معینیتونو کې د قدرت د وېش په وخت کې د لږ تر لږه ۲۵ سلنه ښځو ونډه وټاکله. همدا ډول دې هوکړه‌لیک د مذاکرې پر پر دواړو اړخو الزامي کړه چې یو مشخص شمېر ښځې وزارتونو ته کاندیدې کړي. همدا ډول په هوکړه‌لیک کې د دې صراحت وشو چې جنسي تاوتریخوالی او جنسیتي پېښې به د اوربند نقضوونکي موارد ګڼل کېږي. سربېره پر دې، دې هوکړه‌لیک له فساد سره د مبارزې، د اساسي قانون د تعدیل، امنیت، بیا رغونې، د خساراتو جبران او اقتصاد اړوند کمېسونونو

کې د ښځو استازولي تضمین کړه او ښځو ته د پور ورکولو د اسانتیا لپاره یې د ښځو د شرکتونو د پراختیا صندوق ایجاد کړ. دې هوکړې همدا ډول د ښځو د ټولنیزې هوساینې تیارې ته لومړیتوب ورکړ او جنسیتي عدالت یې د اساسي قانون د یو اصل په توګه تضمین کړ بلاخره دغه هوکړه‌لیک په اوربند کې د ښځو د بلوک په ځایولو، د واک د لېږد د امینتي ترتیباتو پر څارنه او د د فاع او امنیت په ستراتیژیکې اروزنې سره، ښځې د هوکړه‌لیک د اجرا پړاو ته راوستې.

Faiz Mohammad Kateb Road, Darulaman, PD
6th, Kabul, Afghanistan
020 250 0676
aihrc@aihrc.org.af
www.aihrc.org.af
facebook.com/AIHRC
twitter.com/AfghanistanIHRC
Instagram: instagram.com/AfghanistanIHRC
LinkedIn: linkedin.com/company/AIHRC/

Afghanistan Country Office
UNOCA Compound, Jalalabad Road
Postbox n° 949
Kabul, AFGHANISTAN
0093 79 963 3235, 0093 70 773 7690
info.afghanistan@unwomen.org
afghanistan.unwomen.org
@unwomenafghan
@unwomenafghanistan

۱۶ جوزا ۱۳۸۱